وهمچنان شما را الست ولي سارختيم ... (٨) صفحه
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

طي دوسال ٦٢ هزارکشمیري به شهادت رسیده است

اسلام آباد - ١ قوس :
درپاکستان امروزاعلان شدطرف سالهاي ١٩٩٠ - ١٩٩٢ میلادي بیش از٦٢ هزارنفرازمردم کشمیرتحت کنترول هندبدست نیروهاي نظامي هندي کشته شده اند .
سازمان خیریه انصاربرني بانتشار بیانیه اي این آماررا اعلان نموده وگفته است درمیان ٦٢٦٠٠ نفري که طي این سالها به شهادت رسیده اند ٧٩٨ کودك متعلم دیده مي شوند .
سازمان انصاربرني درین بیانیه تعدادکساني راکه درین مدت مفقود شده اند ٢٢ هزارنفرعنوان کرده وافزوده است بیش از٦٠ هزار نفرازمردم کشمیرنیزطي این مدت بدست نیروهاي هندي مجروح شده اند براساس آماراعلان شده ازسوي این سازمان ، تاکنون اجساد ١١٠٠ نفرازمردم کشمیرکه دردوسال گذشته دربازداشت نیروهاي هندبسرمي بردند ، ازرودخانه جهلم بدست آمده است به گزارش خبرگزاري ایران سازمان خیریه انصاربرني ازدوازده سال قبل فعالیت خودراآغازکرده وهمین اکنون درکشورهاي انگلیس ،جاپان ، ترکیه وفرانسه نمایندگي دارد

حملات کمونست هابه شهریاوان موجب فرارمردم ازین منطقه گردید

دوشنبه - ١ قوس :
گزارش هاي رسیده حاکي ازحملات جدید نیروهاي هوادارکمونست درتاجکستان است واین امرمشکل جدي رادرامرپناهندگي درآن جمهوري بیش ازپیش تشدید کرده است .
رادیوتاجکستان گفت دیروز نیروهاي هوادارکمونست همراه تانکي که درپیشاپیش آنهاحرکت مي کرد به شهریاوان واقع درنزدیکي دوشنبه حمله کردند این رادیو بدون ذکرجزئیات گفت عده اي درجریان این حمله کشته شده اند .
رادیوتاجکستان از رهبران دولت کمونست جدیددرخواست کردبراي مشاهده اوضاع ازنزدیك ، به آن شهرسفرکنند همچنان گفته شده نیروهاي هوادارکمونست به شهرطوس واقع درنزدیکي مرزتاجکستان باافغانستان نیزحمله کرده اند پناهندگان مي گویند درین حمله که درحدود ده روزپیش رخداده حداقل پنجاه نفرکشته شده اند . صلیب سرخ بین المللي میگوید آنهادرشهردوشنبه مشخصات بیش ازصدهزارپناهنده راثبت کرده اند امارقم واقعي بیش ازآن است

شمارهٔ مسلسل (٥٦٣) سال پانزدهم ،شمارهٔ (١٠٩) سه شنبه ٣ قوس ١٣٧١ هـ.ش- (٢٩)جمادي الاول ١٤١٣ هـ.ق- (٢٤)نومبر ١٩٩٢م بیه : یوه روپی یا(٥٠) افغانی

رشیددوستم خواهان عضویت جنبش ملی درشورای رهبری وشورای اهل حل وعقدگردید

رشیددوستم سردستهٔ ملیشه هاي وحشي بنابه دعوت حکومت سعودي درضمن یك هیئت عازم آنکشور شد.
نامبرده قبل ازعزیمتش به سعودي درمصاحبه باخبرنگاررادیوبي بي سي بااشاره به شوراي حل وعقد گفت : تمام اقوامي که درافغانستان هستند تقاضا وپیشنهادشان همینطوریك شورایي بودکه مطابق نفوس نماینده ها انتخاب شوند، تاآنکه هرچه زودترجنگ خاتمه پیداکندواین شوري درقضایاتصمیم بگیرد. وي افزود: مابه این ارتباط کمیسیوني درحدود سي ودونفرکه نمایندگان همه اقوام وملیت هادرآن شرکت دارند تشکیل دادیم وبه کمیسیون نامبرده صلاحیت دادیم تابارهبران صحبت کنندودرزمینهٔ پیشنهادهایي که دارد بادولت داخل مذاکره شوند .
دوستم بااشاره به جنبش ملي نام نهادگفت : جنبش پیشنهادهایي دارد اگرکه موردقبول دولت واقع شود، درشوري اشتراك مي کند وازدولت اسلامي افغانستان قاطعانه پشتیباني مي کند. وي بااشاره به تقاضاهاي قبلي اش مبني براشتراك نماینده اش درشوراي رهبري وهمچنان برسمیت شناختن جنبش نام نهادوي گفت ماميخواهیم نمایندگاني درشوراي اهل حل وعقد داشته باشیم وهمچنین جنبش ملي رامردم برسمیت بشناسند ودرشوراي رهبري هم عضویت حاصل نمائیم زیرااین موضوع راهمه مي فهمندکه نقش اساسي را درسرنگوني رژیم کمونستي وفاشیستي نجیب داشت . نامبرده همچنان علاوه کرد جنبش ازحالاایبان نیامده کسانیکه درراس رهبري آن قراردارند ازهفت سال به اینطرف بخاطرنجات همین قوت هاکاروفعالیت میکردند. باید جنبش ملي رامنحیث یك سازمان وتنظیم برسمیت بشناسند .
دوستم به جواب این سوال که اگردرزمینهٔ تقاضاي جنبش جواب مثبت دریافت نکنید آیابازهم درشوراي اهل حل وعقد اشتراك مي کنید؟ گفت : اگرجواب مثبت نشنیدیم درآنصورت جنبش شوراي اجرائیه وشوراي عالي را دایرخواهد کرد ودرزمینه تصمیم میگیرد .

ص(٨)

ادارهٔ ائتلافي "عرفاني" عضو حزب وحدت رابه ایران فرستاده است

حجت الاسلام عرفاني عضوحزب وحدت وابسته به اهل تشیع افغانستان که از طرف اداره ائتلافي کابل بمنظورتشریح اصول انتخاب اعضاي شوراي حل وعقد به ایران رفته است ، بعدازظهرامروزبامعاون آسیاواوقیانوسیه وزارت امورخارجه ایران دیدارکرد .
طبق گزارش رادیوي ایران درین دیدارکه حجت الاسلام فیاض رئیس شوراي نمایندگي حزب وحدت مقیم تهران هم حضورداشت ، عرفاني باسپاسگذاري ازتلاش هاي گسترده ایران براي کمك بمردم افغانستان وپذیرایي بیش از ٢ ملیون مهاجرافغاني طي سالهاي گذشته اظهارداشت ، دولت افغانستان هم تلاش خودرابکارگرفته است تاازطریق تشکیل شوراي اهل حل وعقد مشکل سیاسي آینده افغانستان را حل کند .
رادیوي مذکورعلاوه کرد آنگاه معاون آسیاواوقیانوسیهٔ وزات خارجه ایران ضمن تشکرازاعزام فرستاده خاص دولت افغانستان براي تشریح تصامیم رهبري به شوراي حل وعقدگفت : جمهوري ایران به هرتصمیمي که ملت مسلمان افغانستان براي تعین ساختارسیاسي این کشوراتخاذ کنند ، احترام خواهدکرد . وي درزمینه بازگشت مهاجران افغان به کشورشان گفت باتوجه به تشکیل کمیسیون سه جانبه جمهوري ایران ، افغانستان وسازمان ملل ، بازگشت مهاجران براساس مصوبات این کمیسیون وایجاد تسهیلات صورت خواهدگرفت .
***

افرادناشناس یك پولیس ترکي راکشتند

اشخاص مسلح ناشناس شام شنبه طي حمله اي برلیلیه پوهنتون استانبول یك نفرپولیس راباضرب گلوله کشته اند.
این پنجمین پولیس است که طي هفته گذشته دراستانبول به قتل میرسد روزنامه هاي ترکیه میگویند که گروه دهشت افگن غیر قانوني اعلان شدهٔ دس سوال مسؤلیت این حمله را ادعاکرده اند

قیادی شوری ته د(١٥٪) اوربانی ته د(٥٪) نمایندگانو حق ورکول له ملت سره خیانت دی

دافغانستان داسلامي حزب (خالص) یوه قوماندان لومړي بریدمن محمدعمردائتلافي اداري داهل حل وعقدشورا دکمیسیون دکاروتوپه باب اودافغانستان دمعضلي دحل لپاره، دبي بي سي سره په مرکه کي وویل هغه کمیسیون چي په اصطلاح داسلامي حکومت له لوري ورته وظیفه ورکړي شوي وه چي تاسو داهل حل اوعقدشوراراوغواري په حقیقت کي دغه کمیسیون دجمعیت اسلامي باپه اصطلاح دافغانستان داسلامي حکومت په گټه کاروکړ، قیادي شوراته ني د١٥ فیصده کسانوانتخاب حق ورکړاوخپله دقیادي شورا رئیس ته ني ٥ فیصده
برخه پکي وتاکله ، نوزه وایم چي آیاقیادي شوراâو رئیس بي دټول ملت لخواتعین شوي وو چي دوي ځانته داحق ورکړي دي. زه فکرنه کوم چي داکمیسیون به موفق شي چي یوه واقعي داهل حل اوعقد شوراپه کابل کي راټوله کړي .
د٥+١٥ فیصده او٥ فیصده دحق ورکولوپه باب خپل نظرداسي څرگندکر دادپنځه فیصدو چي دقیادي شورارئیس ته حق ورکړشوي او١٥ فیصده بیاقیادي شوراته

(٨)مخ

درشاهراه بغلان-پلخمري پنج تن ازملیشه های وحشی کیان بقتل رسید

پلخمري - ٢٩ عقرب :
بگزارش یك منبع جهاد ي ازولسوالي پلخمري ولایت بغلان درین اواخر پنج تن ازملیشه هاي کیان درحال کشته شدندکه میخواستند ازولسوالي پلخمري عازم مرکزبغلان شوندودرعرض راه جیپ حامل شان مورد اصابت راکت مجاهدین قهرمان حزب اسلامي قرارگرفته وآتش گرفت.درخبرعلاوه شده است که تنها دریورموتربنام عبدالله جان سالم به دربرده که فعلاً درنزدمجاهدین اسیرمي باشد .
\#\#

معاون وزارت داخلهٔ رژیم نجیب دستگیر گردید

کابل - ٢ قوس :
گزارش هاي واصله ازولایت شهیدپروکابل حاکیست که دگرجنرال عظیم زرمتي معاون وزارت داخلهٔ حکومت کمونیست نجیب بروزشنبه اول قوس توسط هواداران ادارهٔ ائتلافي کابل دستگیروبجاي نامعلوم انتقال داده شده است .
گزارش علاوه مي کند زرمتي هنگام دستگیرگردیدکه میخواست باپاسپورت جعلي ازطریق میدان هوایي بین المللي کابل فرارنمایدبدرخبرآمده است که احمدشاه مسعود وزیردفاع ادارهٔ ائتلافي دستورداده است که باید جنرال موصوف به اسرع وقت رهاگرددامامامورین بلندپایه دیگرادارهٔ ئتلافي به خواست آقاي مسعود پاسخ مثبت نداده خواستارمحاکمه وي شده اند .
\#\#\#

په بوسنیا هرزگوینا کی تراوسه(١٢٨٤٥٠) کسه مسلمانان اوکر- واتان وژل شویدی

سرایوو دلیندي ١ :
دبوسنیاهرزگووینادروغتیائي چارومسئولین وایي چي په بوسنیاهرزگووناکي داووه میاشتني جنگ په دوران کي له مسلمانانواوکرواتانوڅخه ١٢٨٣٥٠ کسه مړه شوي دي .
دکروشیارادیودروغتیائي چارودمسئولینو په حواله دنوموړي خبریه اعلان سره زیاته کړه چي دمسلمانانو اوکرواتونپیانوشمیر لږترلږه ١٣٣ زروتنوته رسیدلي دي خودصربیانودمړواوټپیانوشمیرتراوسه ندي معلوم .

صدراعظم الجزایربر ادامهٔ مبارزهٔ دولت بامسلمانان تأکیدکرد

الجزیره - ٢ قوس :
عبدالسلام بالعیدنخست وزیرالجزایرتصریح کردکه باوجودتشدید اقدامات دولت برضدمسلمانان اصول گرا، ناآرامي هادرین کشورهم چنان ادامه دارد .
بالعیدکه درتلویزیون الجزایرسخن مي گفت گروهاي مربوط باجبهه اسلامي رامسئول بي ثباتي دولت معرفي کرده وافزود تلاش هاي دولت براي سرکوبي این گروهاجریان خواهدیافت .

باقطع جریان برق شهرکابل درتاریکی فرورفت

همزمان بافرودآمدن برف درکابل جریان برق درقسمتي ازین شهر قطع گردیده است.
طبق گزارش رادیوي مسکو برق شهرکابل را یك گروه مجاهدین قطع نموده که این عمل مشکلات شهریان کابل را افزایش داده است زیرا ازیك طرف موادسوخت به این شهرکمي رسد وازطرف دیگرجریان برق که مشکلات مردم را تاحدي مرفوع مي ساخت قطع گردیده است .
رادیوي نامبرده ازقول رجب علي فقیري رئیس بریشنا مؤسسه علاوه کرد که بندبرق سروبي که برق موردنیاز شهریان کابل را تهیه میکرد بدست نیروهاي حزب اسلامي نبوده وگروه دیگري به این عمل دست زده است - سخنگوي وزارت دفاع ادارهٔ ائتلافي نیز ازعامل قطع برق ذکریعمل نیاورده است.

دکشمیري مجاهدینو دیومشرمري پیداشو

سرینگر- دلیندي ١ :
دنیول شوي کشمیرڅخه رارسیدلي رپوټونه وایي چي تیره ورځ دکشمیردمسلمانانو مبارزینو دیومشر شیخ عبدالحمید مړي پیداشویدي .
هغه دوي ورځي مخکي دجهلم په سیندکي هغه وخت شهیدشوچي له سیندنه دپوري وتلوپه وخت کي هندي وحشیانودهغه بیړي وویشتله دبي بي سي یوخبریال درسمي مقاماتوله خولي وایي چي له شیخ عبدالحمیدسره دجموأوکشمیردآزادي جبهي نورغړي هم شهیدان شویدي دوي غوښتل چي له هغه امنیتي کمربندڅخه چي دکورونودتلاشي کولو په وخت کي جوړشوي وو وتښتي خبرونه وایي چي دښارپه زرهاووخلك دبندیزونو سره سره دشیخ عبدالحمید په جنازه باندي راټول شول .

چندین شهر بوسنیا هرزگوینا زیرحملات صربها قراردارد

سرایبو- قوس :
آخرین گزارش هاي دریافتي ازبوسنیا هرزگوینا هم چنان حکایت ازادامه حملات صربها بمردم مسلمان این کشوردارد .
به گزارش رادیوبوسنیا شهرهاي گراداچاد، مادیلاي کورو، کونیك وزابنیش کانون حملات صربهاطي دیشب وامروزبوده است . اوضاع شهرگراونیك وخیم گزارش شده وخبرنگارانیکه اخیراً به این شهر سفرکرده اند گفته اندهفتاد هزارسکنه شهردایماً درزیرزمیني ها وپناهگاه هازندگي میکنند. همچنین اوضاع درشهرتوسلاني که دیروز بااصابت گلوله صربهابه یك کارخانه مواد کیمیاوي درآن ، آلوده به موادکیمیاوي شده بودنابسامان گزارش شده و از سرنوشت ده ها هزارنفر ازساکنان آن تاکنون گزارشي بدست نرسیده است .

چین ترکمنستان ته (٥٠٠) ملیونه دالره پورورکوي

پیکنگ دلیندي (١)
پیکنگ ته دترکمنستان دصدر مراد نیازوف دلیدني کتني نه وروسته چین موافقه کریده چي هغه هیوادته به (٥٠) ملیونه دالره پور ورکړي
همدارازدوارو خواوو یوشمیر نورسندونه لکه دپانگي اچولو سیاسي چاروااورروغتیاپه ساحوکي لاسلیك کړي دي
دترکمنستان دبهرنیو چارو د وزیر مرستیال بري شیخ مرادوف وویل چي چین دهغه پلان سره علاقمندي ښودلي ده چي دترکمنستان نه دافغانستان اوپاکستان دلاري چین اوجاپان ته دغاز درسولو پایپ لاین جوړ اووغزوي صدر نیازوف اوس شانگهاي ته تللی دی .

دهنددآسام په ایالت کی دبم دچاودنو له امله (٢٥) کسه ووژل شول

نوي دېلي د لیندي(١)
دهندشمالي ایالت اسام په گواکي کي دبم ددوو چاودنو له کبله (٢٥) کسه وژل شوي دي اکثره خلك دېناري سرویس موټرونو په عمومي تم ځاي کي په یوه سرو بس موټرکي دچاودني له امله وژل شوي
خبرځاي وایي چي وروسته له هغه

(٨)مخ



سعودي ته ددوستم سفر دکابل دحکومت دبې وسی اعتراف

څومره چي وخت تیرېږي، دایتلاف له مخ نه کاذبانه پردي څیري اودمجاهدملت په وړاندي یې رښتیاني څیره برېنډېږي. لکه څنگه چي موږځوځوځلي دخپل ایماني مسئوولیت له مخي په ډاگه کړي وه، چي تپل شوي ایتلاف یوه عارضي شکلي بڼه لري، اودیوه پاخه بنسټ دنه درلودلولامله یې دژوند اوږدېدل دومره یقیني خبره نده ، نودادي گورو، چي دایتلاف په شیطاني ماڼي کي درزونه له ورایه ښکاري، اولیري نده،چي دخودکشي په دول دحلیفانودیوه معمولي تکان له مخي پرمخي رانسکوره شي، اوداکاربه خامخا صورت نیسي. ځکه دکمونیزم پاتي شوني اودهغوي کمونیست مشران چي کومي غوښتني لري، هغه که هرڅوداستادرباني اومسعودله خواومنل شي، خوژموږمجاهدولس یې زغملي نشي. دبیلگي په دول که ومنو،چي شمال ته دي دحل وعقدپه شوراکي برخه ورکړل شي، او داکاردي دجغرافیایي ویش اوبنسټ له مخي سرته ورسي، نوبیا څوځتیغ ، لویدیځ اوجنوب هم شته ، هغوي به هم داسي پوښتني راولاړوي، پخپله همدغه طبقه بندي هم داستاذرباني اودهغه دملگرودوجوددنفي کولو لپاره بس ده ، اوکه فرضاً داسي وشي،نوبیدي کي هم ددوي داقتدارڅه خیرنشته . ددي پرعکس که استاذرباني ددوستم دغوښتنوپرضدقدم پورته کوي، ځکه یوځوبي دخان اوملگرودمستقبل سوال دي چي بایدداسلام اوملت تاریخ ته ځواب ولري ، اوبل دجهادي ځواکونودفشارمسئله هم ده، چي دده دواکمني پرضدله یرغلونوسربیره دکلابندي پروسه هم مخ په وړاندي وړي ، خوله دي سره سره داهم شته ،چي رباني اودلي ته یې دېخوایه شان دیوه مجاهدپه توگه دافغانانو په زړونوکي کوم نرمه گوښه نه لیدله کیږي، همدغه مایوسي اوسیاسي انزواده ، چي رباني له سیاست نه داقتداردروماتیت رنگیني دنیاته رسولي، اودخپلولیونوځوبونوتعبیرکله ځان ته دحل وعقددشوراپه پنځه فیصدي کوي، اوکله له روس اوازبکستان نه غیرقانوني چاپ شوي بندلونه بندلونه افغاني راوړي اوېدي توگه دمجاهدملت قهراوغضب لاپسي راپاروي . سیاسي کتونکي اودافغانستان دحالاتو مطالعه کوونکي لاپخوایدي عقیده وو، چي دوستم به ترهغي ایتلاف ته

(٧) مخ

سخن روز

دوستم سعودي ته ورسيد خودائتلافي اداري واکمن پري خبرنه دي !

عبيدالله "ايمل"

نن سبا چي کومه خبره دهر مجلس نقل ده ، هغه سعودي عربستان ته دجنرال عبدالرشيد دوستم ياپه بل عبارت حاجي دوستم (!) دحج عمري ادا،کولو خبره ده . خصوصاً چي ائتلافي اداره پري خبره نه ده .
جنرال دوستم هرڅوک پيژني چي څوک دي اودجهاد په دي ١٤ کلنه موده کي يي څه جنايات ترسره کړي دي خدايزده چي هغه به دڅومره مسلمانو مجاهدينو په وينو لاسونه سره کړي وي اوڅومره کورونه به يي لوټ کړي وي ، څوزره ليتره شراب به يي په مصرف رسولي وي او دڅومره معصومو ځوانو عفتونه به يي پايمال کړي وي ؟ خونن هماغه دوستم ديومسلمان (!) په حيث دلوي خداي (ج) پاک حرم ته وربلل کيږي ، اومهمه لاداچي ملګرتيايي دهغه فرقي دمشرله خوا کيږي چي دامت په اجماع له اسلام څخه وتلي دي په داسي حال کي چي دلوي خداي (ج) حرم ته دغيرمسلمان ورتګ شرعاً جواز نه لري ،ولي افسوس چي نن دټول اهل اسلام علماً اوپخپله دسعودي علماً او مفتيان چپ دي ، هيڅ غږيي نه پورته کيږي ،چي داد مجاهدينو اواهل اسلام قاتلان ولي سعودي اوحرم شريف ته بلل کيږي آيا داکار يوازي ددي خاطره شوي چي امريکا پري خوشاله شي اوکه ددي لپاره چي په افغانستان کي مجاهدين پري وځوروي اوپه نتيجه کي دوستم ، منصور نادري اوامثالهم ديو سوچه مسلمان په حيث مطرح اودافغانستان خلکو ته دمنلو وړ شي کيداي شي هدف يي همداوي خو شاعروايي :

دکعبي په بزرګي کي هيڅ شك نشته
ولي خربه حاجي نشي په طواف

په هرصورت پکارنه وه چي سعودي، دي کارته زړه ښه کړي واي ځکه چي دهغه هيواد له خوا دوستم ته رسمي دعوت ورکول اوحج ته بلنه زموږدمجاهدملت ددومره خواشيني سبب ګرځيدلي چي دجهاد په ټوله موده له مجاهدينو سره دسعودي مرستي يي په صفر ضرب کړي ، ان تردي چي خلك په دي شك کي لويدلي چي کيداي شي د سعودي هغه پخواني مرستي هم داسلام په خاطر نه بلکي دڅه خاص سياسي هدف لپاره وي اوکه نه نو ځنګه کيداي شي چي دمجاهدينو سترقاتل ته اوس دعمري اداکولو لپاره بلنه ورکول کيږي ؟
ځيني سياسي کتونکي داعقيده لري چي يواحتمال داهم دي چي سعودي هڅه کوي چي کارسره ددوستم ترمشري لاندي نامقدس ائتلاف چي اوس دايران خواته ميلان لري ،خپلي خواته رامات کړي اوپه نتيجه کي په ائتلاف کي داهل تشيع دلي رول کمزوري کړي ، اوکيداي شي چي په دي کي دسعودي دځينو پلويانو اودلو يااشخاصو خوښه هم ملګري وي ، دااحتمال په دي هم ځواکمن کيږي چي هغه کسان په دي هکله کاملاً چپ دي دښه اوبدخبره نه کوي اوکنه نوبو شمير جهادي دلو خو په ځرګندوالفاظو ددي مخالفت کړي اودسعودي عربستان سفير ته يي ددي کار د خطر ناکو عواقبو خبر داري هم ورکړي وو پاتي شو دائتلافي اداري دواکمنو عکس العمل. هغوي بيا په يي شرمانه ډول وايي چي سعودي عربستان ته ددوستم سفر دهغه خپل کار دي اوحکومت په دي کي څه رول نه لري نه دهغه له سفر سره موافق دي اونه هم ورنه پوښتنه کريده . دائتلافي اداري ‌دبي تنګي خبره اودغه بي شرمانه موقف دا پوښتني پيدا کوي تاسي خو هغه داسلامي پوځ ! برخه بولي نوبيا ځنګه کيداي شي چي يودولت دي دخپل جنرال له خارجي سفر څخه اطلاع ونه لري او يا دي دخپلو سفرونو په اروند اجازه ترلاسه نه کړي تاسي خو په سپين سترګي سره په هرمجلس کي وايي ، چي دوستم اومليشه يي زموږ هري قوماندي ته غاړه ږدي ،ولي ددي سفر په هکله يي ځان ناګاره اچوي وايي چي موږ پري خبر نه يو اونه يي له موږ څخه اجازه ترلاسه کړي اونه چا راسره مشوره کريده .
ددي نه خ‍ دداسي معلومه شوه چي جمهور رئيس اووزير ټول دوستم دي قوماندو اواحکام دهغه دي ، څه چي وغواړي ،کوي يي چي داسي ده نوبهتره داده چي توردغه وحشي مليشي دخپل پوځ برخه ونه بولي ،بلکي د حضرت صاحب مجددي په شان په ميرانه اعلان وکړي چي ددووکوټو صلاحيت هم له موږ سره نشته څه چي دي ټول له دوستم سره دي اويس .
په ځانګړي ډول چي اوس دوستم دمستقل اوبرلاسي قوت په توګه ځان هم مطرح کوي ، په قيادي شوري کي برخه غواړي اود هيئتونو په واسطه له ائتلافي اداري سره خبري کوي ياپه بل عبارت جمهور رئيس او وزير دفاع دومره سپك بولي چي دځان دسيال په حيث ورسره خبري هم ننګ بولي.
موږخو دائتلافي اداي مشر انو ،همکارانواوغوليدلو مجاهدينو ته وايو چي بس دي نور جهاد مه سپکوي نور پدي ملت باندي لوبي مه کوي ،لږ خپل ګريوان ته سرښکته کړي لږ دخپل ملت غږ واوري دهغو پوښتنو ته ځواب ووايي ،زموږ ملت اوټول اسلامي امت پوښتنه کوي .
چي دا ١٤ کاله قرباني دڅه لپاره وي ! آيا دهغه وحشي دوستم دقدرت ته رسيدو لپاره چي دملت وينې يې څښلي ! آيا داوطن دغير اسلامي حکومت دجوړيدو لپاره وران شو ! آيا خپل موهومي قدرت ته رسيدل موهدف وو؟
که ځواب مثبت وي ،نودنړيه شان يي اعلان کړي اوکه داسي نه وي نوبيا نورځان مه غولوي ،خبره ښه ښکاره دچي "غواتوره اوپي يي سپيني" دوستم هرڅوك ښه پيژني ستاسي داداري ماهيت هم ښه ځرګند دي ښه داده چي تورله مليشو اوکمونستانو نه ځان بيل کړي .
دمجاهدينو خط ونيسي مجاهدينو ته په اخلاص لاس ورکړي دواقعي اسلامي حکومت دجوړيدو خبره ټينګه کړي ، شوي تعهدات پرځاي کړي ، دکمونست رژيم ټول پاتي شوني اومليشه ځواکونه خلع سلاح اوخلع قدرت کړي .
په دي کي به مودواره سمي وي اوکه نه نو داديوي تيمي ورځي قدرت به موهم روژي نشي ټولي ١٤ کلني قرباني به موابته تللي وي اودا ټو ... ځلي به مو دهيڅ لپاره وي

ايادي اوسنيو تياروڅخه رڼاته دوتلو کوم اميدشته ؟

قريب الرحمن "سعيد"

داهل حل وعقددشورا جوړښت به څومره ممکن وي ؟
- په ولاياتوکي داهل غږودانتخاب ستونزي .
- هغه ستونزي چي هيئتونه به ورسره مخ کيږي .
- دشورادغړوداخستلوله پاره دزرونوملبونوافغانيوويش .
- دپنځه اوپنځلس فيصده انتصاب پرابلم .
- دائتلافي حکومت ددي اقدام سره دجيدوعلماوومخالفت .
- کوچيانوته دوندي نه ورکول .
- دکمونستوځواکونوموجوديت .
-دپوهاندرباني ددوري اختتام .
- دتياروڅخه دوتلويوممکنه حل .
په داسي حال کي چي دبوي شورا اوباغوندي دجوړښت له پاره هلي ځلي رواني دي اودتنظيمونوځوا توظيف شوي هيئتونه دولاياتوپه لوړپه نظامي هلي کپتروکي دتيري چهارشنبي اوپنجشنبي په ورځوکي (دعقرب ۲۷ نيټه) روان اودهيئت هرغړي دجيب خرڅ دپنځه لکه افغانيو په لوټونوباراودورځي په دري زره افغانيواضافي خرڅ خوشحال کړل شوي ، خودامعلومه نه ده چي ددي شورااوبادپښتنوپه اصطلاح دجرګي دغړوانتصاب دهغوي راټوليدل اوبيا ديوه نوي آزاداسلامي حکومت په جوړښت کي به دهغوي کردار څه وي. هيڅوك څه نشي ويلاي . ددي علت دادي چي پرهرولايت اوياهري ولسوالي چي چاقبضه کړي نودهغوي ځاي نمايندګان به هم حتماً دخلکودخوښي پرته دټولو هغه لايحوترپښوپه لاندي کولو چي ددي غوندي دجوړښت له پاره دجوړشوي کميسيون په واسطه جوړشوي، انتخابيږي . نه به په کي دکميسيون لخواجوړشوي صفات په نظرکي نيول کيږي اونه به دهغوي دکاراوانتخاب طريقي ته اهميت ورکول کيږي، ښکاره ده چي دورليږل شوو هيئتونودنده يوازي اويوازي دکميسيون لخوا دترتيب شوولايحوتوضيح اوتشريح ده او ددي نه اخواهغوي په هغه معرفي خطونولاسليك کوي چي دانتخابي حوزوڅخه به ورته رسيږي پخواله دي نه چي دکميسيون دترتيب شوي لايحي نه موږڅوتکوته اشاره وکړو غواړوهغه ستونزي چي داهيئتونه به ورسره مخ کيږي ترمخ کښيردو . اوهغه داچي دهري ولسوالي او ياولايت په سطحه دقوماندانانوترمينځ تاوتريخوالي دومره زيات دي چي يودبل په مرګ خولاڅه چي هغه بي ګناه خلك چي يوه ته ني په پراخه ټنده غناورکړي وي هم دهغه بل لوري دعتاب نه خوندي اوپه امن کي نه دي، په خپلو مينځوکي ني تصفيوي عمليات پيل کړي، ولسوالي اوبيا ولايتونه ني يو دبل څخه فتحه کړي اواوس هلته دقهرمانانوحيثيت لري په داسي ځايوکي نه شوراګاني شته اونه دشورادجوړښت له پاره زمينه برابره ده .
اوس ددغه ورليږل شوي هيئت دنده داده چي په هغه ځايونوکي چي جهادي مشترکه شوراوجود ونلري نوهيئت به دمطرحوجهادي قوماندانانوپه مرسته يوه شورا جوړوي، اوبيا دمطرحوقوماندانانو تعريف داسي کوي:"چي مطرح قوماندانان هغه څوك دي چي دوامداره جهادي سابقه ولري اوپه سيمه کي دمقتدري اوآزادي قرارګاه خاوند وي" دلته داخبره توضيح شوي نه ده چي آياهغه مطرح قوماندانان چي همدااوس دخپلي سيمي څخه په زوراوجبرسره شړل شوي، دوي به هم په دي جهادي شوراکي راغونډيږي اودنمايندګي حق به ورکول کيږي او که مطرح قوماندانان همغه دي چي همدااوس هلته په سيمه کي موجوددي خودسيمي دجهادي شوراغړيتوب نلري، که چيري اول تعريف تري مقصدوي خوجنجال به نورهم ډيرښت مومي، اودښمني به بيا راژوندي کيږي ځکه مهاجرشوي قوماندانان به بيا به سيمه کي دپښوځاي پيداکوي اودابه په سمه دحاکم قوماندان له پاره دتحس وړ نه وي . اوکه دويم تعريف تري مقصدشي نوبيا يوڅه تفهيم کيداي شي خو که چيري دسيمي ددي قوماندانانوترمينځ ترېګني اوتاوتريخوالي ددي حده پوري ... چي يوبل سره دکښيناستوزړه هم ونکړي ... لپاره کومه لاره وي. ځکه به دخپل اثرونفوذ ... اصرارکوي، که څه هم دکميسيون لوايحوپه دي هکله صراحت کړي چي که چيري هيئت په کومه حوزه کي ددي لايحو په تطبيق موفق نه شي نوعمومي انتخابات دي وکړي خودکميسيون داصراحت ځکه ممدنه شي واقع کيداي چي لمړي خودهغي سيمي خلك ټول اوبادوبره برخه به ني مهاجروي اودابه هم معلومه نه وي چي دامهاجرين په څوهيوادونواوياڅوکمپونوکي خواره وي، اودهغوي دارادوداخستلوله پاره په بياکافي وخت ته اړتياوي چي داکار په ١٥ يا ٢٠ ورځوکي ممکن نه دي، ددي لاانجمن اوبيچلي فارمولي بل اړخ دنمايندګانو او صاف دي چي بايد دهماغو اوصافوله مخي غړي وټاکل شي اوبيا دي شوراته راټول کړل شي .
په دي صفاتوکي راغلي چي :" په يوه توګه نه يوه توګه ني زموږ په ١٤ کلن جهادکي برخه اخستي وي اودمجاهدينواوجهادپه خلاف ني منفي موقف نه وي نيولي اوهمدارازپه ضاله "ګمراه " احزابواوډلوپوري منسوب نه وي، دمسلمانانوترمينځ نيك شهرت ولري اودهغوي ملاترورته ترلاسه وي .
دجهاددبيت المال په دارائي کي په کوم مشهورخيانت نه وي متهم شوي اونه دداسي اعمالومرتکب شوي وي چي داسلامي اوملي هويت منافي تصورکيږي " همدارازوائي چي :" په فسق اونوروعملي انحرافاتوکي ني شهرت نه وي موندلي " اوس داچي

داموصفات به څوك تطبيقوي . څوك به دفاع کوي. څوك به پريکړه کوي، هيڅ مرجع نلري، هرڅوك چي دهرځاي څخه دهري دلي لخوامعرفي شوهماغه به خپله ددي ټولو مواصفاتوخاوندګرځي که څه هم دهغه ترشادخيانت ، قتل، فسق اوفسادجنډي هم ولاړي وي. هغه خولاپريږده چي دپخواني کمونست رژيم پوري اړوند خلك به څوك تصفيه کوي. ځکه هغوي نه يوازي داهل حل وعقدپه شوراکي دګډون ... [illegible] ... دکابل ... شوراکي دخپلو نمايندګانوله پاره هم دعوالري ... [illegible] ... مشرانوپه شمول ني بوه ډلګي هم کابل ته ... رژيم دواکدارانوسره دخپرو اړوله پاره راليږلي ، ددي ډلګي پومشرتيره ورځ دبي بي سي دتبليغاتي دستګاه سره په يوه مرکه کي په ډاګه ځرګنده کړه چي دشمال ... ولايتونو ... په ... قيادي شورااوحکومت کي دمعرفي نه محروم دي، په دي اساس بايد قيادي شوراکي دهغوي يونمايندده هم ګډون ولري اوداچي استادبرهان الدين رباني دهغوي داغوښتنه منلي، اوددي ترمخه پخواني جمهوررئيس پوهاند مجددي هم دهغوي غوښتني ته مثبت ځواب ويلي ؤ" په داسي حال کي چي په قيادي شوراکي دشمال څخه دوه کسه هريواستاد رباني اوانجنيرحکمتيار دواړه برخمن دي اوپه حکومت کي خوني دصدراعظم اودفاع دوزارت په شمول ګن شمير وزارتونه هم په منګولو کي کلك کړي . اوس نوکه دپخواني رژيم په لاس تربيه شوي ډلګي . چي په دي تيرو اوه مياشتوکي يي دافغانستان ددولت ټولي اثاثيه تباه اوبربادکړي اودافغانستان مجاهد ولس ني دخپلي ١٤ کلني ځان ځارني په خوږو يوه نه کړ. دکابل ښاريي دبي امنيتي ، فساداوفسق مرکزوګرځاوه اوهمدااوس ني هم په دي ښار دغصب منګولي وربنخي کړي هم په دي شوراکي چي مواصفات ني پورته ذکرشوي اونوم ني ورته داهل حل وعقدشوراورکړي برخمن کيږي ، نودابه نه يوازي دافغانستان دمجاهدقوم له پاره دتوهين نه ډك کاروي بلکه دتحمل اوبربادي څخه به ني هم وتلي وي دغه شوراچي همدااوس ني کميسيون دراغوښتلوپه هلوځلوکي مصروف دي نه خوبوه نماينده شوراده ، نه دمخورو اوسپين روبوجرګه ده اونه داهل حل وعقد دنامه وړده بلکه کيداي شي چي ديوي داسي انتصابي ټولني نوم ورته ورکړلي شي چي دملت نمايندګي به په کي نه وي . ددي مثال همدااوس داسي په نظرراځي چي لاتراوسه هيئتونه دڅګ په حال کي دي چي دهرات، کندهاراوځيني نوروځايونوڅخه دبرسراقتدارډلي کسان کابل ته منتخبونمايندګانو په نوم راورسيدل .
همداراز دائتلافي دولت مشرتابه اوپه څواك غاصبي ډلګي دحکومتي اختياراتونه په ګټي ټول هغه ثروت چي په لاس کي لري دهمدي مقصدپه خاطرپه کاراچولي. هرولايت او ولسوالي ته په زرونوميليونه افغاني بودجه تخصيص شوي ترڅودهمدي لاري څخه پري واوري په اصطلاح دحل وعقد شوراغړي واخلي.اوکه چيري داکارهلته په ولاياتواوولسواليوکي ترسره نه شي نوبيا په څوکاتيره پيسي دشوراغړوته په کابل کي تخصيص ورکړي ، ځکه په افغانستان کي دافغانيوزرګيزلوټونه دپانو څخه هم پريمانه دي، دنوټپاني دروسي زهري بونوپه واسطه وسوځيدي خوافغاني نوټونه اوس هلته په مسکوکي دروسي مشينونو په واسطه رازرغونه کيږي اوپه هيوادکي ني شيندي .
ددي ترڅنګ بله کړکيچنه ستونزه دجمهوررئيس اوقيادي شوراځوادري سوه کسانويعني ۲۰ فيصده غړوانتصاب دي چي په دي دله کي به سل کسه يعني ٥ فيصده به پخپله پوهاند رباني انتصابوي. حال داچي داطريقه دکميسيون دغړولخواپه ګډه دوه ځله مسترد شوي، اماټاسفانه چي دقيادي شوراترنامي لاندي دوه دري کسه پريکړه کوي اوخپل هغه ضدسرته رسوي. هغه ديوه مبصرخبره چي داستادرباني ددوه تيموروڅوحکومت ته دااختيار دکومه ځايه وريه برخه شوي چي ٥ فيصده دي پخپله انتصاب کوي، ځکه نه خوپه هيوادکي کوم قانون شته اونه کوم داسي لارچي استدلال پري وشي .
دبله اړخه هره پريکړه که دداسي بوي شوراپه نتيجه کي منځته راځي هغه به هيچاته دمنلووړنه وي اولانجه به نوره هم ډيرښت مومي .
داهل حل وعقدشوراددغي پروسي ګلك مخالفت دافغانستان دجيدوعلماووځواهد شوي اوهغوي دالاره چي ائتلافي حکومت خپله

(۷)مخ

مذاکرات صلح شرق میانه به نفع کیست ؟

عبدالهادي

مدت ها ست که ملت مسلمان ومظلوم فلسطين زير ضربات خصمانه وددمنشانه اسرائيل فرياد ميکشد ، بادست خالي درمقابل ارتش مجهز ومدرن ترين ابزار نظامي صف کشيده وفرياد آزادي راسرميدهد، آزادي سرزمين اسلامي خود را ميخواهد تاسيس حکومت اسلامي راميطلبد ده ها سال به همين منوال سپري شد ، باګذشت هرلحظه شدت خشونت اسرائيلي ها افزايش يافت سرزمين فلسطين لګد مال يهودان ګرديد و خطه اسلامي به اشغال ملحدين درآمد محيط وزندګي برفلسطينيان مظلوم تنګ تر وسخت ترګرديد ،فشار دشمن افزايش يافت وقلمرو يهودان ګسترده ترشد يهودان جهان به اين منطقه اشغالي مسلمين سرازير شدند ودرمقابل مظلومان فلسطين کمربستند وصف آرايي نمودند فرياد ستمديدګان فلسطيني بګوش جهانيان نرسيد يهودان خونخوار مسلمانان را کشتند ،بستند ،بدار آويختند وآواره کردند اموال ومستملکات اوشانرا تاراج کردند ، غارت نمودند وتصاحب شدند جوانان را بګلوله بستند ، اطفال راکشتند ، واز هرګوشه جنايت قساوت ووحشيګري دريغ نکردند اما ...
امافرياد مظلومان فلسطيني بګوش جهانيان نرسيد ، به استغاثه آنها کسي پاسخ نداد ، به ياري شان همت نګر دوبه دادشان نرسيد ازآنها ئيکه بااسلام ومسلمين عداوت دارند اميدي نيست اماروي سخن بامسلمانان وکشورهاي اسلامي است چه عواملي باعث شد که حدود چهل وپنج کشورمستقل اسلامي جهان به ياري آنها نه شتافت ويك مليارد مسلمان جهان جنايات يهودان راکه عليه برادران شان اعمال مي نمادیده ګرفتند؟
موضوعيست که بايد درآن غورکرد

اکنون امريکا ،آن جنايت پيشه بزرګ که همه جنايات جاري برمسلمين ناشي ازتوطيه هاي محيلانه وهمدستان وي است ، صداي همدردي بامسلمانان فلسطيني رابلند کرده وعلم مذاکرات صلح را بر افراشته است ګويا امريکا بااسلام احساس همدردي نموده يهودان راازسرزمين هاي اشغالي فلسطين مي راند وحکومت اسلامي را در آنجا تاسيس مينمايد

امريکا ،اين طراح بزرګ جنايات ازيك طرف کمکهاي هنګفت اقتصادي وابزار مدرن انسان کشي نظامي را در اختياريهودان اسرائيلي قرارميدهد وآنها رابه کشتار مسلمانان تشجيع مينمايد وازطرف ديګر جوانب ذيدخل را به مذاکرات صلح دعوت مي کند مذاکراتي که جز منافع صهيونست ها هيچ نتيجه ديګري برآن مرتب نخواهد شد وجز تائيد موجوديت اسرائيل در سرزمين اسلامي ، اثري بجا نخواهد ګذاشت مذاکرات صلح خاورميانه توطيه ايست که زمينه ورود نيروهاي اشغال ګر امريکاي رادرمنطقه آماده مي سازد
ويا براه انداختن اين چنين توطيه ها که معمولاً زير پرده مذاکرات صورت ميګيرد ،منافع اسرائيل وحاميان غربي راتامين مي نمايد ومسلمانان راازحق مسلم شان محرومي سازد وهمچنان درآينده نزديك ورود امريکا رابه اين منطقه زمينه سازي و تضمين مي کند چنانچه چندي قبل درجريان مذاکرات نام نهاد صلح خاورميانه منعقده واشنګتن ، آمريکا از استقرار نيروهايش دربلندي هاي جولان يادآورشد. محال است که آمريکا قدمي به نفع مسلمين بردارد وياعملي به ضرر يهوديان انجام دهد اګر چنين پنداشته شود که ګويا امريکا سرزمين اسلامي فلسطين راازاشغال يهودان آزادميسازد وبه فلسطيني ها مي سپارد تاحکومت دل خواه اسلامي شان را تاسيس کنند خيال و حماقتي بيش نيست
اګر درنقطهٔ از جهان ودر مرحله اي ازتاريخ چنين حادثه اي رخداد باشد که قدرت هاي استکباري غرب بخصوص امريکا قضاياي فيمابين اسلام وکفر را عادلانه حل وفصل نموده باشند که چنان نه شده است درابنصورت ساده انديشان درين قضيه نيز نفع مسلمين را پيشبيني نمايند وبه طمع آزادي فلسطين ازطريق مذاکرات دل خوش کنند بايد دانست که درابنګونه مذاکرات معمولاً حقوق مسلمانان تلف شده ومياجنيګري بيطرفانه امريکا وهمرديفان غربي اش را،تاريخ بياد نداشته وندارد ، لازم است هئيت نمايندګي فلسطين وساير خوش باوران مسلمان درموقف خود درقبال امريکا وهم پيمانانش تجديد نظر کنند
هدف عمده برګزاري اين مذاکرات تائيد موجوديت اسرائيل درسرزمين هاي اسلامي ،زمينه سازي ورود ارتش امريکا به منطقه ، ايجاد [illegible] کشورهاي عربي بخصوص کشورهاي همسايه با فلسطين ... [illegible] تفرقه وپراګندګي بين ګروه هاي مجاهد ومبارز فلسطيني وازهمه مهمتر کند ساختن روند جهاد ومبارزات ازاديخواهي ملت مظلوم وبه ... فلسطين ... باشد که باچنين حيله سازي ونيرنګ بازي ... [illegible] ... فلسطينيان برپايند، اما مبارزان شهادت شعار فلسطين ميدانندکه جهاد عزت وراه آزادي شان است چون خداوند متعال جهاد واستقامت درميدان نبرد را وسيله آزادي مظلومان وستمديدګان فرموده وبه پيامبر بزرګوار اسلام ارشاد نموده که باکفار ومنافقين جهاد کن ودر مقابل آنها شدت وغلظت اختيارکن ، درمقابل کفار ومنافقين ازقوه قهريه بايد کارګرفت نه آنکه راه صلح ومسالمت را اختيارکرد.
هم چنان خداوند متعال به مؤمنين ارشاد ميفرمايد که يهود ونصاري را دوستان خو دنګيريد ، باآنها دوستي نکنيد، بامؤمنين الفت ودوستي نمائيد که شايسته اين مقام اند.
افراديکه دست به دامان آمريکا زده بااستشارهٔ امريکا قدم برميدارندبه نفع آن سخن ميګويند وبه سود آن عمل مينمايند، غافل اندازآنکه قدرت هاي طاغوتي انسان را ازمسير هدايت به ضلالت ميکشاند.
درشرايط کنوني که مسلمانان فلسطيني موردظلم وتعدي صهيونست ها قرار ګرفته اند،جهاد بهترين وسيله ويګانه راه رهايي آنها وآزادي سرزمين هاي اشغالي است ، راهيست که به تاسيس حکومت اسلامي منتهي ميګردد برمسلمانان جهان بخصوص کشورها وسازمان هاي اسلامي لازم است به ياري آنها بشتابند،زنان وکودکان مظلوم وستمديده فلسطيني راازچنګال خونين صهيونست ها

ص (۷)

دبوسنيا پرتباهي داسلامي هيوادونو چوپتيا ؟

انجنير تورگل "ځمكني"

دمسلم مشهوره ورځپانه داكتوبرپه نهمه نېټه په خپله گڼه کې ليکي چي :

څه موده ترمخه نيويارك تايمزدبوه اوږده مضمون په ترڅ كي هڅه وكړه چي دبوسنيا داولس عامه وژنه دقبرس د۱۹۷٤ م كال دپيښوپه ځواب كي عكس العمل اوحق په جانب ثابته كړي . په داسي حال كي چي دقبرس ستونزه دشمالي قبرس دخارجه اودفاعي چارو دوزيرډاكټركنعنان الاكول په قول په ۱۹۷٤ م كال كي نه ده رامنځته شوي. په دغه كال كي يوازي تركيي ديوناني قبرسيانو دستربرغل په مقابل كي عكس العمل څرگندكړ . په حقيقت كي دقبرس ستونزه په ۱۹٦۳ م كال كي دتركي قبرسيانوپرخلاف ديوناني قبرسيانو دستربرغل په نتيجه كي رامنځته شوه .

دقبرس يونانيانومشرتابه دتركي قبرسيانودعامي وژني لپاره داكتياس پلان جوړكړي وچي هدف ئي له حكومت څخه دتركي قبرسيانو شړل ؤ . دياډولو وړده چي دقبرس حكومت په ۱۹٦۰م كال كي ددواړوفريقوله خوا په گډه تشكيل كړاي شوي ؤ په حقيقت كي يوناني قبرسيانوغوښتل چي تركي قبرسيان له حكومت اوحتي له هيواد څخه دباندي وشړي . له ۱۹٦۳ م كال څخه تر۱۹۷٤ م كال پوري تركي قبرسيان ديوناني قبرسيانوله خوادزياتو كړاونو اوځوروني سره مخامخ و .

څنگه چي نړي دبويشتمي پيړي په درشل كي ده اواروپائي عيسوي نړي په خاصه توگه نړيوالوته داباوروركوي چي په راتلونكي پيړي كي به دبشري حقوقو ساتنه وكړاي شي، خوله بلي خوادعيسوي سربيانوله خواچي دبوسنياله بي وزلو وگړو سره كوم سلوك روان دي نودعيسوي اروپاپورتني دعوه شكمنه بريښي .

له مسلمانانوسره دعيسويانودښمني داسلام دمنځته راتگ له نيټي سره سمون خوري. دلسويپړيوپه دوران كي داسلام سپيڅلي دين پرته له شمالي اروپا اوچين په ټوله نړي كي خپورشو.

مشهورليكوال ادوارډگيبون په دي باب ليكي چي :« كه په نهمه ميلادي پيړي كي مسلمانانودفرانسي شمال خواته خپل پرمختگ ته دوام وركړاي واي نو اوس به داكسفورډاوكيمبرج په پوهنتونو كي زده كوونكيو دانجيل پرځاي دقرآن زده كړه كوله .»

هنداراژيويل ليكوال پيټرمانسفيلدهم ليكي چي " كله چي عثمانيانوبالكان، هنگري ونيول نوپه ۱٦۸۱ م كال كي اسلامي ځواكونه دوياناتردروازو ورسيدل ، نوكه دغه كاردوام پيداكړي واي، نوپه اروپا كي هيچاداباورنه كاوه چي مسلمانان به بياپرشالاړشي" .

په ۱۹٦۰ م كال كي بوسنيا له سربيا څخه بيله شوه اوپه ۱٤٦۳ م كال كي دعثماني دولت يوايالت وگرځيدچي دهابسبورگ سره په جگړوكي دعثماني دولت لپاره ئي ديوي مضبوطي چاوڼي حيثيت درلود. تراوږدي مودي عثماني دولت په اروپا كي يوداسي ځواك وچي هيچاورڅخه سترگي نه شوي پټولاي .

دهابسبورگ چارلس اول، دفرانسي فرانيس اول اودانگليستان هنري اتم هريوپه خپل وارهلي ځلي كولي چي له عثماني دولت سره ئي اړيكي دوستانه وي خوپه پټه ئي دهغه پرخلاف سازشونه كول.

مگرداتلسمي ميلادي پيړي په پاي كي داروپائي ټولواكونظامونو اواسلامي نړي ترمنځ دطاقت توازن داروپائي عيسويانو په گټه بدلون وموند. په دغه وخت كي اسلامي نړي دعيسويانوسره دصليبي جگړويه شان په جبهاتوكي جگړه نه درلوده مگر عيسويانودمسلمانانوپه منځ كي په خورازياته چالاكي سره نفوذ كړي ؤ. ددغه هدف دلاسته راوړو لپاره عيسويانو دسوداگري دموسسويه شكل كي خپل فعاليتونه پيل كړل اودسيمه ايزو واكمنوڅخه زيات امتيازات اوپه خاصه توگه د«كاپيټالاسيون» حق ترلاسه كړ، بانه ئي داوه چي دوي دعثماني دولت داقتصاددپياوړتوب لپاره هلي ځلي كوي. دياډولووړده چي اوس هم لوديزځواكونه دښمنواسلامي هيوادونوسره همغه شان معاملات ترسره كوي .

دمسلمانانودعظمت په دوران كي عيسويانواويهودو دټولنيزرفاهي حكومت لاري چاري له مسلمانانو څخه زده كړي. نه يوازي مسلمانان بلكي عيسويان اويهودچي پخوا تردي زياتره غلامان وو داسلامي دولت لوړو مقاماتوته ورسيدل. دكاروتوويش يوازي دقابليت اواستعداد پربناشوي ؤ. مگردوخت په تيريدويوځي صاحب منصبان ، ملكي افسران اومذهبي شخصيتونه پرواكمني طبقي بدل چي دخپل ټولواك دگټوساتنه ئي كوله اوله اولس څخه ئي فاصله ونيوله .

دافسوس خبره ده چي اوس هم په اسلامي هيوادونوكي همدغه نظام موجوددي په ۱۸٦۵م كال كي دځوانوعثمانيانو يوه انقلابي ټولنه جوړه شوه چي بياوروسته «دځوانوتركانو»پرټولني بدله شوه . په اسلامي نړي كي دغه ټولنه لومړني سياسي گوندوچي زياتره مشرانوئي له يهودي ټولنوسره نژدي اړيكي درلودي. دياډولووړده چي دعثماني دولت په ملي اقتصادكي هم عيسويانواويهودومهم رول درلودچي ددولت لوي بانكونه لكه دآلمان بانك ، دتركي ملي بانگ اوداسي نوردهغوله خواكنټروليدل .

دعثماني دولت دكمزوري په نتيجه كي په ۱۸۳۰م كال كي يونان خپله آزادي ترلاسه كړه . په ۱۸۸٤ م كال كي الجزاير اوتونس فرانسي ته حواله كړل شول. په ۱۸۸۲ م كال كي برېتانيامصرونيو اوپه ۱۹۱۲م كال كي ايتاليالپرليبيا يرغل وكړاوونې نيوله .

په ۱۸٦٦ م كال كي په بيروت كي دامريكائي پوهنتون دبنسټ ډبره كيښودل شوه اوپه ۱۸۷٤م كال كي دسينټ جوزف پوهنتون هم جوړشوچي دمسلمانانودذهنيت په بدلون كي ئي خورازيات رول ولوباوه اوپه دي كارسره ئي دسترعثماني دولت دټوټه ټوټه كيدولپاره زمينه برابره كړه .

ځوانوتركانوعثماني خلافت له منځه يوړ اونوي نظام ئي اعلان كړ چي :« تردي وروسته به موږټول وروڼه يو، نوربه بلغاريان، يونانيان، يهوداومسلمانان نه وي. موږ ټول برابريو .»

نوي نظام دناسيوناليزم اوسيكولريزم پربنسټونوټينگ كړاي شو چي له اسلامي بنسټونوسره په بشپړه توگه توپير درلود .

سره ددي چي مسلمانان په خپله عقيده كي دومره پرشالاړل خوبياهم يونان، سربيااوبلغاريااله هغوويړه درلوده چي په خپل منځ كي ئي په ۱۹۱۲م كال كي په پټه اتحاد وكړ اودعثماني دولت پرخلاف ئي جگړه اعلان كړه .

له بلي خوادروس اوعثماني دولت د۱۸۷۷م كال ترجگړي وروسته بوسنيا دهنگري ، استرياامپراتوري ته حواله كړاي شوه چي په ظاهره كي بيرې دعثماني دولت كنټرول ؤ مگرپه ۱۹۰۸م كال كي بوسنيا په نوموړي امپراتوري كي ضم شوه .

په ۱۹۱٤ م كال كي داستريا شهزاده فرانسيس فرډي ناند دبوسنيا په مركز سرايوكي ووژل شوچي په نتيجه كي لومړي نړيواله جگړه پيل شوه . د۱۹۱۸ م كال داكتوبرپه ۲٦ نيټه بوسنيادسربياسره شامله كړاي شوه چي دسربيادټولواكي يوه برخه وگرځيده .

په ۱۹٤٦م كال كي ديوگوسلاويا جمهوريت منځته راغي دنوي نړيوال نظام په رڼاكي اوس هلي ځلي روانې دي چي .

(٦) مخ

حكومت ائتلافي مسئول اوضاع نابسامان كنوني

نوشته عبدالرؤف "طينت"

بعداز استقرار حكومت ائتلافي دركابل، توقع همگان چنان بودكه درسايه، نظام اسلامي همه اقشار مردم دست بدست هم داده دراعمار مجدد كشور بلاكشيده، خويش وظيفه ايماني ووجداني خودرا اداءنمايند . اما ديري نپائيد كه اميد ها وتوقعات مرهم مبدل به يأس وناامیدي گرديد .

علي الرغم همه اميدها حكومت ائتلافي نتوانست درمقابل اين خواست همگاني پاسخ درستي ارائه كند ، اين بودكه آهسته ،آهسته دامنه مخالفت وسيع ترشده رفت. تاجائيكه زمينه درگيري هاي مسلحانه رابوجود آورد ، چنانچه باوجود تشكيل حكومت نام نهاد اسلامي هنوز جنرالان متعددي نظير بابه جان ،نبي عظيمي ،جنرال مجيد ، جنرال مؤمن وامثال آن از رژيم هاي سفاك كمونيستي گذشته درراس نيروهاي وزارت دفاع باقيمانده‌است .

ساختارتشكيلاتي نيروهاي بدنام گلم جم نه تنها دست نخورده باقيمانده است ، بلكه حكومت بيشرمانه ادعادارد كه تحت نام نيروهاي مليشه هيچ نيرويي وجود ندارد وتشكيلات يادشده جزءارتش اسلامي مي باشد، كارمندان خادسابق اكنون در سازش باحكومت ائتلافي هركدام استاد چهارده ساله جهاد رابدست آورده اند. گذشته ازاين اداره ائتلافي براي تمام كارمندان خاد يك يك رتبه فوق العاده قايل شده است واين درحالي است كه سايركاركنان خدمات اجتماعي از اين امتياز بي بهره مانده اند .

پروسه پاكسازي مؤسسات وادارات دولتي ازلوث كثيف كمونيست ها بكلي متوقف شده وبعضاً رؤسا ومديران سابقه باسازش باحكومت فعلي وبدست آوردن كارت هاي عضويتي كه سابقه آن چندين سال را دربرمي گيرد، درقدرت باقيمانده اند .

حكومت ائتلافي برغم توافقاتي كه باحزب اسلامي به امضارسانيده درجهت ضديت بامفاد قرارداد هاي منعقده ، پيوسته بابرقراري پل هوايي ميان كابل ومزارشريف برتعداد نيرو هاي سفاك ومزدورگليم جم درشهر كابل افزوده است هرچند كه تلويزيون كابل عمليات خروج عده يي ازاين اوباشان واراذل رابصورت تفنني درحضور عدهٔ از ژورناليستان به نمايش گذاشته است تا روپوشي برتخطي هاي رژيم ازمفردات موافقتنامه باشد .

حكومت ائتلافي يك فرصت طلايي رابراي برقراري صلح دايمي باگذشت هرروز عمداً ازدست ميدهد درچنين شرايطي يكعده ازاحزاب اسلامي كه در قبال سازش هاي حكومت ائتلافي باكمونيست ها سردچار بلاتكليفي شده بودند ،اعلان مواضع كرده ، موقف شانرا دربرابر رژيم برملاساختند، من باب مثال تصميم جناب مولوي محمديونس خالص ازبه تعليق درآوردن عضويت شان درشوراي رهبري وتصميم شوراي ولايتي ننگرهار دربرقرارنساختن ارتباط بارژيم كابل مصداق اين ادعا ي ماست اوضاع ساير شهر ها وولايات كشور بنابر وضع نابسامان كنوني روزتاروز به وخامت گرائيده چنانچه عدهٔ ازكاركنان ملل متحد ومؤسسات بين المللي كه جان مامورين شانرا درخطرميديدند ، كارمندان خويشرا ازكابل فراخوانده اند .

مع الوصف دستگاه ائتلافي قادر نيست اوضاع داخل شهركابل را تحت كنترول درآورد ، درگيري ميان احزاب اتحاد اسلامي ووحدت اسلامي كه منجربه قتل صدها نفر وزيان هاي بيشمار مالي به هموطنان ماگرديد ضعف حكام خودكامه را در ادارهٔ شهركابل برملامي سازد .

ازاينجاست كه مسأله تامين امنيت بحيث يك موضوع اساسي درمحراق توجه قرارمي گيرد .

هيچ كشور وياسازمان اجتماعي حاضر نيست دروضع ناهنجار فعلي كمك هاي خود را بجانب افغانستان گسيل دارد اين كشور ها بارها اذعان كرده اند ماداميكه صلح سراسري درافغانستان تأمين نشده واوضاع سياسي كشور ثبات نيابد ، آنها كمك هاي شانرابه حالت تعليق درخواهند آورد . اين كشور ها بنابر عدم سازگاري اوضاع امنيتي درشهر ،دست به خروج سفر اوساير كاركنان شان ازكشور ما زده اند .

متأسفانه پروسهٔ تحويل گيري بانك نوت هاي بي پشتوانه ازكشور روسيه بعدازبرقراري حكومت ائتلافي نيز كماكان ادامه يافته است واين امرمسأله تورم پولي وصعود قيمت ها را بصورت بي سابقه افزايش داده است ارزش برابري پول افغاني درمقابل ساير پول هاي جهان سير نزولي خودرامي پيمايد واين وضع براقشار وطبقات پائين جامعه اثر سؤخودرامي گذارد ، طوريكه تحمل بيش از اين را خارج ازتوان مي سازداخيراً دولت درمقابل پارچه هاي آرد كارمندان دولت وجوه نقد را مرعي الاجرا دانسته است كه اين امر دربازار تاثير سوبجاگذاشت وقيمت مواد ضرورت اوليه درشهر سير صعودي داشت بافرار سيدن فصل زمستان مشكلات مردم ازناحيهٔ كمبود مواد سوختي وموادغذايي دردرجهٔ اول اهميت قرار مي گيرد ،تاجائيكه به حزب اسلامي مربوط مي شود ،براي اينكه اقشار پائين ترجامعه وهمه مسلمانان باالاخص شهريان كابل ازاين ناحيه دچار تكليف نشوند ،تحت يكعده شرايطي به عموم قوماندانان ومجاهديني كه درطول شاهراه هاي مواصلاتي بكابل اخذ موقعيت نموده اند ابلاغ نموده است كه

صفحه (٦)

محترمودحزب اسلامي دشهادت ورځپاني ټولو كاركونكو : السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

محترمو ستاسو نشريات دحقيقت پلوي كوي اوپه افغانستان كښي موږ ته ټول حقيقت روښانه كوي موږته ستاسي دنشراتو په واسطه دافغانستان دټولو حالاتو اطمينان اومعلومات راكوي اوزموږ دخپل تنظيم موقف راته ښيي هيله لرو چي خپل نشرات هميش راوليږي اوهم ډير ملگرو ستاسو دنشراتو زموږ څخه معلومات غواړي شهادت يوازني نشريات دي چي ټول حقيقت بيان اودزړونو تسلاكوي
بااحترام ستاسو ورور سيدالله

#

محترم ورور سيدالله خان :

ليك دي را ورسيد د تاسي له تقدير نه مننه مگر دشهادت ورځپاني داستولو په هكله بايد ووايو چي اوس شهادت څرخيږي،او تاسو كولاي شي په پيښوركي كوم ورورته وظيفه وركړي چي دشهادت هره گڼه تاسوته پست كړي .

اداره

###

دپوهنتون لوټل دروغ نه دي

قدرمن ورور تورن احمدشاه ،ليك موراورسيد ،سلامونوته موعليكم والسلام ،اوداچي دشهادت ورځپاني ستاينه موكړي ، داستاسي اودجهاد ددوستانو نيك نظردي ، زموږ له اړخه مننه قبوله كړي اوڅه چي مودخپل پخواني ليك په اړوند رالېږلي دادي خپرو يي ترڅو هغه دابري چي ستاسي له پخواني ليك نه ورته شك پيدا شوي ؤ قانع شي اويا پخپل وارمدلل ځوابيه ليك راواستوي

محترم دشهادت جريدي قهرمانو چلوونكو ورونو السلام عليكم !

لومړي درته بشپړ صحت اوسلامتيا دپاك خداي (ج) څخه غوارم خداي پاك دي وكړي چي ستاسو حوصله نوره هم اوچته شي ترڅو دغه ملت شموله جريده په يوه جهان شموله اسلامي انقلابي جريده بدله شي اوس مو هم له گرم سنگر سره اوږه په اوږه دجهاد ديوه بله ساتي . بلكه غوارم چي دغه رڼا نوره هم خوره شي په انگليسي ، عربي اواردو ژبو كي چاپ شي اوداسلامي خاوري گوټ ، گوټ ته ورسيږي ، هلته به دنړي ويده اوغافل ذهنيتونه رابيدار يري اومسلمانان به خپل دغه رسالت چي دخداي په ځمكه دخداي قانون دي ،ترسره كړي

دخپل پخواني ليك په ارتباط چي دكابل پوهنتون دقيمتي آثارو دغلاپه باره كي مي در ليكلي ؤ دكابل پوهنتون علمي اوتاريخي آثار دحزب وحدت دوسله والو دلو له طرفه غلاشوي ، دغه يوه معلومداره خبره ده داچي هغوي به داخبره تسليم نكړي ، داځانته موضوع ده، څكه هيڅ مجرم دخپل جرم اعتراف نه كوي بلكه په چالاكي او زيركي ځان دملت له سترگو پټوي ممكن تاسوته دحزب وحدت كوم بناغلي ددي خبري ترديد وكړي لاكن زه يوه پوښتنه له تاسو كوم ! په ځوارلس كلن جهادكي روسانو ددي جرئت ونكړ چي دچاپه سركي مبخونه ټك وهي ، دخلكو پوزي اوغوږونه پري كړي اويابي هم په كانتينروكي ژوندي وسوځوي خواهل تشيع اوروړونداوكړل دشيعه اوسني خبره چي اصلاً زموږ لپاره مطرح نه وه همدوي رامينځ ته كړه او دمذهب په نوم يې په حكومت كي برخه وغوښته .دپښتنو پرگنو بي عزتي يې وكړه سرايي كمونست چي په حكومت كي مستقيم نماينده دي ! ددوستم همكاري كوي ؟ داټولي خبري چي ماذكركړي ، يوه يې هم حزب وحدت نه ده تائيد كړي !

زه كوم هدف نلرم چې په ناحقه اويا هم دكومي كركي په بنا په حزب وحدت تورولگوم داټول كارونه شوي دي هغوي زموږ گران افغانستان ټوټي كول اوزموږ جهاد بدناموول غواړي ، په هرصورت زه ، ... هر ورورچي تاسو ته څه ليكي نه بايد چي په نامطمين دول بي تصوركړي بلكه هغوي همدايوه صفحه لري چي خپل غم پكي وژاړي اوهغه هم شهادت دي

هيڅ يومسلمان افغان ددي جوگه ندي چي په ناحقه په چا تورولگوي وگوري چي لقرابي بيا څه ويلي ؟ (مليشه داسلامي پوځ برخه ده) تاسو په خپله فكر وكړي زه به نورهيڅ هم نه وايم دومره وايم چي دوي ولي شرمبري نه پدي خبري

زه داوايم چي څوك چي جهاد خرڅولاي شي ، وطن ائتلاف ته سپارلي شي ، هغه ته دكابل پوهنتون قيمتي آثار څه سختي لري چي خپل بادارته يي وركړي

تورن احمدشاه ودگ

رعايت حجاب اسلامي

به ادارهٔ محترم جريدهٔ شهادت !
السلام عليكم ورحمة الله

نخست پيروزي وموفقيت تمام كاركنان اين اداره راتوأم بااستقرار حكومت اسلامي آرزومندم چند روزقبل يك نامه درارتباط زنان فراري وبي حجاب جهت نشر حضورشما ارسال نمودم امامتأسفانه تاالكنون به نشر نرسيده است اميداست نامهٔ هذا رانشر نمائيد .

ازمدت تقريباً سه ماه به اين طرف تعداد كثيري ازدوشيزگان وزنان بدون آنكه حجاب شرعي واسلامي رامراعات نمايند دركوچه وبازار پشاور گشت وگذار مينمايند خصوصاً پارك حيات آباد كه محل گشت وگذار وتفريح اين خانم هاي بدحجاب گرديده است كه اگر جلوايشان گرفته نشود فجايع راكه دردوران حكومت هاي ملحد وكمونست مرتكب شده بودنددرين جانيز تكرارمينمايند .

چنانچه همه شاهد بي بندوباري وبي حجابي زنان ودختران (تازه وارد) درمحيط هجرت هستند درهمه جا ظاهرمي شوند كه نه تنها موجب حيرت برادران انصارمي گردد بلكه سبب تاثرات عميق مهاجرين سابقه نيز مي گردد .

عموماً اين قماش خانم ها حجاب رامراعات نمي نمايند واگر رشتهٔ كوتاه حجاب را باخودهم داشته باشند از اطوار ورفتارشان همان تبرج جاهلي پيداست و همه را متوجه خود مي سازند .

اينجاست كه زنان ديگرراتيز به اين اعمال غيراسلامي عادت ميدهند ، اگرزنان مسلمان درمحيط هجرت ازحجاب شرعي واسلامي استفاده نمايند .

اگرازآرايش وفيشن دوري جويند سبب (رضاي خداوند وخوشنودي رسول الله (ص) مي گردد اكنون وظيفه پدران ،برادران وشوهران است كه مسؤليت خودرادرك نموده و متعلقات خويش رابه پوشيدن حجاب اسلامي تشويق نمايند البته حجاب اسلامي بهترين وسيله ايست براي اعادهٔ شرف وشخصيت زنان درابعاد مختلف زنده گي كه آنان راهدفمند ومطابق شريعت اسلامي عبارمي سازد .

برادرمحترم احمدشاه صديق :

نامهٔ تان را بااندك تصرف به نشر سپرديم ان شاءالله كه مشاراليهن عطف توجه نموده ودرجهت اشاعهٔ اخلاق اسلامي همكاري نمايند .

وضعيت مدرسهٔ امهات المؤمنين

خوانندهٔ محترم م - ۱ - ر

نامهٔ مطول تان در رابطه با وضع جاري مدرسه امهات المؤمنين به دفترروزنامه رسيد درهمين راستا قبلاً هم خواننده اي ديگري مطالبي نوشته بودند، ولي ما مصلحتاً به وي توصيه نموديم كه شكايت نامه اش را به مقامات جمعيت اسلامي بنويسد ،زيرا مدرسه به تنظيم جمعيت مربوط است اگرشما كاپي نامه اي راكه بما فرستاده ايد ، به مسؤلين جمعيت بفرستيد احتمالاً آنها به ملاحظات شما عطف توجه نمايند ، گر ايشان اقدامي درجهت حل شكايات ننمودند ، درآنصورت چكيده اي ازمطالب تان رابه نشر خواهيم سپرد

(اداره)

***

توهين به ارمان شهدا ومعيوبين

ونافرماني از احكام خداوند(ج) ورسول (ص)

به ادارهٔ محترم جريدهٔ شهادت السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وبعد

قال النبي الله (ص) : لاايمان لمن لاامانة له ودين لمن لاعهدله

رسول اكرم (ص) فرموده كسيكه امانت راخيانت ميكند ايمان ندارد وآن شخص كه عهد شكني ميكند صاحب دين نيست (بيهقي)

نظربه حديث مبارك تماماً اشخاص كه همراي حزب اسلامي افغانستان درهرزمان وهرمكان كه عهد كرده اند وبعداً عهد شكني نموده نه ايمان دارند ونه صاحب دين اند .

خاصتاً برهان الدين ومسعود اگرحقيقت گفته شود تماماً رهبرهاي جهادي كه فعلاً دادازاسلام ميزنند وحالابعض آنها بعدازمدت ۱٤سال جهاد درپهلوي كمونستهاي جنايت كارنشسته حكومت ايتلافي راتشكيل نموده خويش را دربين ملت رسوانموده ودرآخرت بعذاب خداوند گرفتارخواهند شد ،

ان شاءالله وبعض ديگركه درطول ۱٤ سال درمقابل اين تربيه يافتگان روس پليد جنگيدند وزمانيكه حزب اسلامي داخل كابل شد خودراكناركشيده وحزب اسلامي را تنها درمقابل كمونستها قرار داده مي نگريستند تا ببينندكه چه ميشود .

زمانيكه فتح مبين را به چشم سرديدند بعداً دوباره داخل صحنه شده وگفتند : كه مايان كوشش ميكنيم كه دربين حزب اسلامي وگماشتگان روس صلح شود من از آنها سوال ميكنم كه آيا دربين كفر واسلام صلح وجودارد ؟ اگر صلح ميكرديد چرا در اول نكرديد .

بهرصورت قال النبي (ص) يوشك ان يأتي علي الناس زمان لا يبقي من الاسلام الااسمه ولايبقي من القرآن الارسمه مساجد هم عامرة وهي خراب من الهدي علماوهم شر من تحت اديم السما من عندهم تخرج الفتنه وفيهم تعود(بيهقي)

برادرمعيوب شما متقي ازدين بهار كالوني پشاور

#

برادرمحترم متقي صاحب !

نامهٔ آگنده از سوز ودردتان بدون تصرف به نشر سپرديم تا اشخاص مورد نظرشما متوجه اعمال خود شوند

(اداره)

####

محترم وروږعبدالوكيل له راولپنډي نه :

سلامونه موومنه :

دشهادت ورځپانه دځينو ستونزو له كبله دپاكستان بيلابيلو ځايونوته استول لږه گرانه ده ، خوبيا هم اسلام آباد ته په منظم ډول ليږل كيږي تاسو كولي شي له دي لاري نه يي لاس ته راوړي له دي پرته دشهادت له اداري سره كومه بله وسيله نشته هيله ده ،چي پدي به راسره قناعت وكړي اوخپله رابطه به راسره ژوندي ساتي والسلام

اداره

###

زموږدوستان نورله موږ نه څه غواړي ؟

محمدرحیم "خنجر"

هغودوستانو چي پرون له موږ سره دتکبیر ناره غبرګوله اودافغان مظلوم ملت د مظلومیت چغې به یې وهلې نن هماغه دوستانو زموږقاتلان په غیږ کې نیولي اوپه دوستي یې ویاړلاهم کوي، که دغه دوستان اسلام دښمني ته لمن وهي نوموږ هم په کفر دښمني کې لوېدلي یو ځکه چي په کفر دښمني کې لوېدلي وي نو پرهغوي باندې بیادمکر جال کوم اثر نلري دغه دوستان غواړي اوس ددوستي دپردې لاندې دشهدوپه پیاله کې زهرراکړي اودافغان مسلمان ملت اسلامي تشخص له منځه یوسي اوخپلي استعماري نقشې پرې تطبیق کړي افغانانوچې استعماري نقشې اود پردوحکومتونه مثلې نواوس په دافغانانو دتاج اوتخت زمامداران انګریزان وو.زموږ دوستانو چي دپېښور په یتیم خانه کي دافغانستان د مسلمان ملت دسرنوشت کومه لایحه جوړه کړي اوپه هغه کې دیو،،یادووصیاشتو رئیسان ټاکلي شوي ووددوي درياست په وخت کي مسلمانان خولا پرېږده چي دهندوانو هم پکې شپې سباشوې ګاونډي هیوادونو ته په تېښته مجبور کړاي شول چي اوس په جلاوطني کې شپې سباکوي، اودخپل راتلونکي په باب تري لار غلطه شوي چي څه باید وکړي

دهمدې دوستانو دهلوځلو نتیجه وه چي زموږ دمظلومو شهیدانو په وینو ګټل شوي جنګ زموږ دملت دقاتلانو په لاس کي ولوېد اودملت زعامت یې بوداسي بیچاره ته وسپاره چي په اصطلاح پنځه تنه یې هم نه درلودل په داسي یووران او ویجاړ ملک کي قیادت بوداسي چاته سپارل چي هغه دي دځان دحفاظت توان ونه لري نو بو څوک چي دځان دحفاظت اوساتني توان

ونه لري نوبیا به هغه یو ملک څنګه اداره کړاي شي بیا هغه ملك چي هلته څوارلس کاله دېمونواو اوسپنو باران اوریدلي وي او اوس هم ټول ملت مسلح وي ، دغه لایحه دهغو دوستانو لخوا جوړه شوه چي په کلونو ، کلونو موږ دپنځو حساب کاوه اوتل به یې دنازاوعاطفي سندري غږولي

دګاونډي هیوادونو لاسوهني اودافغانستان اوسني وضعي ملت له بوداسي نامعلوم سرنوشت سره مخ کړي چي دراتلونکي په باب یې هیڅوك هم قضاوت نشي کوي

پرون پدي خاوره قطبي خرسانو دواکمني وزرونه غوړولي وو اونن یې بقاياوي داسلام مدعیانو دګډ ایتلاف اوسازش په نتیجه کي پرخلکوحکومت کوي

که نړیوال کفري ځواکونه اسلام ته په کمین کي دي نواسلامي نړي هم خوبولي نه ده چي دوي پري دخپل مکروچالونه وغوروي ، اودمرغانو په څېرمې په قفس کي بندیان وساتي پدي پېري کي داسارت ځنځیرونه شلیدلي اوزیاتره هیوادونه خپلواکي ته رسیدلي دي داپېري داسارت پېري نه بلکي دآزادي اوخپلواکي پېري ده . پدي پېري کي ډېر فرعونیان اونمروذان دځمکي تل ته لوېدلي اودځمکي پرمخ ختم شوي دي له دي حقیقت څخه هیڅوك هم سترګي نشي پټولي چي یوڅوك کلونه،کلونه داستعمار په غیږ کي لوي شوي وي هغوي هم له خانه سره استعماري نقشي لري اوغواړي دغه نقشي په نورو تطبیق کړي

نن چي په کابل کي دملیشو اوګلم جمو کوم شراوغوبل جوړشوي داهماغه استعماري نقشي دي چي

څوارلس کاله زموږ ددوستانو لخوا پري منظم کارشوي دي په ظاهره یې له موږ سره دتکبیر اوازونه غبرګول مګرپه باطن کي یې دخپلو شومو اعمالو د تطبیق لپاره خپلي هلي ځلي توندي کړي وي چي په نتیجه کي یې هغه څوك زموږ په ملت مسلط کړ چي کلونه کلونه یې ددي مظلوم ملت دنابودي لپاره ګامونه اوچت کړي وو اوتر اوسه یې له خولي نه زموږ دمظلومو شهیدانو دغوښو بوي پورته کیږي په تیرو څوومیاشتوکي رامنځته شویو پیښو نه یوازې دافغانستان سوکالي او خوشحالي لوټلي ده ، بلکي غم او کړاوونه یې نورهم زیات کړي دي

اسلامي واقعیتونه اوارزښتونه یې له پامه غورځولي دځوکي وږیوږي خوله ښځه کړیده او بهرنیو واکمنوپکي داسي مداخله کړیده چي ملي وحدت یې لادګواښ سره مخ کړي دي افغان ولس له پېرېو راهیسي یوموټي وُ اوپه راتلونکي کي به هم همداشان یوموټي وي بهرني لاسوهني دهغوي یووالي ته خطر نشي پېښولي خوځني خودغرضه خلك پکي نژادي - ژبني ، اومذهبي تعصباتو ته لمن وهي اونه پرېږدي چي دغه خلك په یوه لیکه راټول او دخپل سرنوشت پریکړه پخپله وکړي دافغان شخړي عادلانه اواري دادي چي هغوي ته په بشپړه توګه آزادي ورکړه شي دبهر نیو لاسوهنو پرته خپل سرنوشت پخپله وټاکي ټېل شوي او دنورو په ارادو پوري تړلي حکومتونه اوایتلافونه دافغانانو ستونزه نشي حلولي اونه دملت په

درد دواکیداي شي اونه دملګرو ملتونو دڅارني لاندي داملت اداره کیداي شي

بوملت چي څوارلس کاله ددو امداراځګري توان لري اودوینو په بدل کي خپله آزادي ترلاسه کوي نو ددي توان هم لري چي خپل سرنوشت پخپله وټاکي

زموږدوستان په خپل ملك کي دپردیو ګوډاګیان اوډاکوان ختموي خودافغانستان په ګوټ ،ګوټ کي پر موږغله مسلطوي زموږ دمظلوم ملت قاتلانو ته ددوستي لاسونه اوږدوي اونه پرېږدي چي دغه مظلوم ملت په ارام اوسوکالي سره خپل ژوند ترسره کړي که پرون راته روسانو له ملك نه ماین باراز جوړکړي وو اوزموږ پښې یې پري غوڅولي خونن راته هماغه دوستان ماینو نه ښخوي چي پرون یې راسره دتکبیر ناري غبرګولي که روسانو زموږ پښې غوڅولي نودوستان خو سرله تني نه بیلول غواړي که زموږ دوستان اوخصوصاً ګاونډي هیوادونه غواړي چي پرموږ غیراسلامي اوټپل شوي حکومتونه ومني داقلیتونو په نامه په افغانستان کي بې نظمي اوګډوډي رامنځته کړي مذهبي ، ژبني ، اوسیمه ایزه اختلافاتوته لمن ووهي ،نوداله انساني عقل نه لري ښکاري داځکه چي دافغانستان څوارلس کلن انقلاب دمذهبي ،ژبني ، سیمه ایزو اواقلیتونو په نامه نه وپیل شوي چي اوس یې خلك په سمتونو ویشي او په اقلیتونو یې تقسیموي پدي حساسوشرایطو کي دافغانانو په کورنیو چاروکي ددوستانو لاسوهنه په حقیقت کي دافغانستان دمسلمان ملت له وژني سره مترادفه ده اوس ددي وخت رارسیدلي چي زموږ دوستان باید خپلي هلي ځلي پکار واچوي اوپه افغانستان کي بوداسي زعامت رامنځته کړي چي دملت ټول اقشار قانع کړاي شي نیت اوپاشان ملت پرځان راټول کړي اداري فسادونه له منځه یوسي ، دعفت

(۵)مخ

شوراي اسلامي وخصوصيات اعضاي آن

عبدالرحمن "نثار"

قبل ازاینکه وارد بحث پیرامون فضاي حاکم برشوراي اسلامي وخصوصیات اعضاي آن شویم لازم است مقدمهٔ کوتاهي داشته باشیم :

جامعه وملت مسلمان بادرپیمودن راهي که درپیش دارد خواه ناخواه به یك سلسله موانع ومشکلات برخورد خواهد کرد، که این موانع بااشکال متفاوت ودرابعاد ګوناګون ظاهرخواهندشد،چون جامعهٔ ماتازه میخواهدکه اززیر یوغ بندګي استعمارشانه خالي کند وتاحال غبارفرهنګ کثیف استکبار برتاروپوداجتماع مانشسته است، سیستم اقتصادي وابسته برکشورماحاکم است روابط اجتماعي طاغوتي والحادي دررفتاروکرداروروزانهٔ ماجریان دارد. خلاصه اینکه برهرجاوبرهرچیزي که دست میګذاریم باخرابیهامواجه میشویم .

سوال اساسيٌ که دراین جامطرح میشود وطرف آن نیزکساني اندکه رهبري وزمام امورکشوروانقلاب را دردست دارند وآن اینکه براي حل موانع ومشکلات که جامعهٔ مادرپیش دارد چه برنامه وراه حلي راروي دست دارند ؟

آیابراي حل هریك ازاین مشکلات وموانع به یك ایدیولوژي نو،ویایك ایدیولوژي وارداتي شرقي وغربي متوسل میشوند ؟

یااینکه براي رفع مشکلات اقتصادي دست بسوي نظام بروکراتیك غرب درازمیکنند وبراي حل مسائل اداري به نظامهاي ارتجاعي منطقه پناهنده میشوند ؟

ویااینکه یکي ازکشورهاي پیشرفته اي اروپائي را براي خودالګوقرارمیدهند ومویه موجاي پاي آنهاراتعقیب مي کنندپس

درآنصورت کدامین کشورچنین صلاحیتي رادارد ؟

به نظرماطوریکه میګویند وګذشته چراغ راه آینده است » هیچ کدام ازاین ها حلال مشکلات جامعهٔ مانبوده ونیست فقط یك راه وجودداردوآن اینکه حق نظروتصمیم ګیري بطورواقعي ودرست به خودمردم مسلمان ماوګذارشود مردم خوب مي دانند که ازچه راهي وباکدام وسیله ازاین موانع عبورکنند.

وکسانیکه مستانه به این دروآن درمي زنندسخت درخطااند زیراراه حل مشکلات وموانع جامعهٔ مادرعقیدهٔ نجات بخش چون پیروزي ما، حرکت ماارمان ملت ما، خواست شهداي ما، جهادوهجرت ملت مادرطول چهارده سال به خاطراسلام بوده است بنابرین پیروزي مامدیون اسلام وانقلاب ماانقلابي اسلامي است .واسلام وانقلاب اسلامي داراي ابعاد ګسترده اي سیاسي واجتماعي ، اقتصادي واخلاقي، علمي وهنري وادبي ، تربیتي، آموزشي ونظامي میباشد، یعني درهربخشي ازاموردستورالعمل ، برنامه وقانوني عملي وقابل تطبیق دارد. زیرا اسلام تنها مکتبي است که دین وسیاست ، دنیا وآخرت ، صلح وجنګ، جهاد وشهادت ، زهدوتقوي ، علم ودانش کاروتلاش رابهم آمیخته است وبراي تمام شئون ملتهاوروابط آنان بایکدیګر برنامه ودستورالعمل دارد. ژرف نګري ودوراندیشي اسلام چنانست که براي انسانها ازآغاز نطفه وجنین تامرګ وپس ازمرګ تاګور، برنامه واحکام دارد.

پس اګرمشکلي پیش آید، ویااصلاحي صورت پذیردویااینکه نهادي درجامعه دګرګون شود تنهادرچارچوب قوانین واحکام اسلام بایدانجام پذیرد.

مګرماازګذشته خودپیشمانیم که راه چهارده سالهٔ خودراکه درتعقیب آن هزاران شهید،صدهاهزارمعلول داده ایم ومشکلات زیادي رامستقبل شده ایم رهانموده وګرفتارمرض هرج ومرج شویم . البته نمي ګویم که یکشبه تمامي مشکلات وموانع برطرف شود، بلکه میګویم که بهترین خط عقیده که منطبق بافرهنګ وساخت جامعهٔ مااست ودرطول چهارده سال مبارزه وجهادبرحرکت ما حاکم بوده فعلاً نیز دراختیارماقراردارد، عقیده وخطي که باکمترین امکانات بیشترین کارهاوبزرګترین پیروزیها رابدست آورده ایم واین همه مدیون اسلام بوده واست پس چراآن رافراموش کردیم . درحالیکه هنوزهم درراهیم وحرکت کنوني مابایددرادامه واستمرارانقلاب وحکومت عدل الهي باشد.

پس یګانه برنامه اي که کشوروملت مارا غالب برموانع کنوني وسیردرجاده صعب العبورفعلي میګرداندهمانااسلام وتطبیق احکام نجات بخش آن است وبس .

آندسته ازکسانیکه بطورمصلحتي ومجازي وبه امیدنان ونام وسهم درقدرت باحرکت وانقلاب اسلامي ملت مسلمان مایکجاوظاهراً هماهنګ شده بودند امروزپس ازسقوط رژیم الحادي کمونیست ، همچون یاران نیمه راه وفرصت طلب، هرکدام راه مناسب باخواست شخصي وګروهي خویش رادرپیش ګرفتندوهریك نغمه یي تازه سردادند وبعدازپیروزي نسبي انقلاب راه ایشان باراه مردم متفاوت ګردیده ونظریات مغایرباخواست ملت مسلمان ومتفاوت بادساتیراسلام، درموردشوري، وظایف آن وشیوه کاروحوزه مسئولیت وخصوصیات افرادیکه باید عضویت شوري را بدست آورندارائه میدهند ، آنچه که این آقایان ارائه میدهند باآنچه که اسلام ومردم میخواهد مغایرت صریح دارد .حتي درباره اي امورمخالفت اصولي بااسلام ودساتیرآن دارد یعني بوي همه مکاتب وایدئولوژیهارامیدهدجزاسلام .

بناءً مقاومت دربرابراین ګونه جریانات انحرافي و انحرافات که ناشي ازطرزتفکرغیراسلامي است تنها درتطبیق وتعقیب راه حلهاي اسلامي که همانا پشتوانه انقلاب اسلامي مابوده میسراست ، لذا تلاش پیګیرومدام براي دستیابي واستنباط شوريٰ دراسلام واجراي آن درسطح کشور امرضروري وحتمي میباشد .

خوانندګان ګرامي همه میدانندکه انقلاب خونبارملت مسلمان افغانستان درشرایط حساس وسرنوشت سازخود قراردارد . این ماهستیم که باراي وانتخاب خودانقلاب رابه پیروزي کامل ویاخداي ناخواسته به شکست مواجه میسازیم ، این بستګي به هوشیاري وبیداري ملت مادارد که درتشکیل شوراي اهل حل عقد که درپیش داریم راي خودرا به وارثین برحق شهدا میدهند یاخداي ناخواسته به قاتلین شهدا .

البته این وظیفه نشرات جهادي است تاخصوصیات وویژګیهاي شوراي اسلامي وافرادیکه عضویت چنین شورا رابدست میاورند براي ملت مسلمان مابیان نمایند.

بنابرهمین وظیفه روزنامه شهادت بحث هاي متعددي پیرامون ضرورت شوري ومشوره ازنظراسلام داشته که مطلب فعلي نیزدرجهت تکمیل همان سلسله بحث هامیباشد صفحه (۶)

دلوېانوخبري

مرسته اواحسان له هرچاسره ښه دي خو له ګاونډي سره ډېر غوره دي (مجددالف شامي رح)

له بې ادب څخه خالق اومخلوق دواړه کرکه کوي

عبدالقادرجیلاني رح

هغه فقیرډېرذلیل دي چي سرمایدارانو ته چاپلوسي کوي

حضرت عبدالله مغربي رح

ډېرخوراك اوډېر خوب کول ژړه توروي

حضرت صفوان بن محرر

دانسان ژبه د زړه ترجماني کوي اوځیره دزړه هنداره ده

حضرت مري مسقطبح

غریب هغه نه دي چي کورنه لري ، غریب هغه دي چي اخلاق نه لري

مړه خېته ذهن خرابوي

فرانکلن

کامیابي له ناکامیو څخه په تیریدو حاصلیږي

غریب هغه دي چي دوست نه لري

دزړه ترټولو بده ناروغي حسد دي

دپند خبري

ترټولو عاقل هغه څوك دي چي خپله خبره ښه ثابته کړي.

ددښمن زړه په مهرباني اواحسان تابع کړه اوددوست په نېك چلند .

له ډارن دوست نه زړور دښمن ښه دي.

په هغه زړه کي چي دژغملوتوان وي هغه کله هم ماتي نه خوري .

هغه څوك چي له بدوکارونو څخه وېرېږي ، ترټولو زیات زړوردي .

جاهل په مال پسې ګرځي اوعالم په کمال پسي .

غصه تل له حماقت نه پیل کېږي اوپه پښېماني پاي ته رسیږي.

له عاقل سره په زندان کي اوسېدل ، له بي عقل سره په جنت کي تراوسیدو غوره دي.

دوفادرس له ګلاب نه زده کړه چي له ګل نه په جلاکیدو مراوي کیږي.

ددوست په ارامي کېنه کول بې غیرتي ده .

ژوند داسي غمي دي چي ټوپل بې دانسان کاردي .

مال ډېر ښه خدمت ګاردي ، خوله دي سره سره ډېر سخت دښمن هم دي .

لوي کاروکړه خولویه وعده مه کوه.

مینه اومار

داخبره دهرچاپه خوله کي ده چي "ماردانسان دښمن دي" خوکله کله داسي هم پېښېږي چي ماردانسان دوست جوړشي. دامریکاپه کلیفورنیاکي دي جترنومي سړي زموږ دخلکوپه اصطلاح ښامار پاللي اوله هغه سره یې حده مینه لري ، دغه ښامار چي پنځه متره اوږدوالي او ٤٨ کیلوګرامه وزن لري ددغه امریکایي سره لوبي کوي .

مني يې که يې نه مني

په پورتوریکو کي دیو ۳۸ کلن میخانیك پېلو سوارېز لاسونه دومره تودوخه لري چي کله هغه ډودي پخوي نو زغاله په لاس کي نیسي او پخېږي اوکله چي اوبه ایشوي نوپه کاسه اویا پیاله کي لاس نیسي اوبه خوټیږي.

بله خبره داده چي کله چي له نوموړي سره بل سړي لاس ورکړي نوتکان خوري او لاسونه یې سوځي دغه سړي ته داناروغي پیداشوي چي پخوا داسي نه وه هغه له مجبوریت څخه تل دتودوخي ضد دستکشي پرلاس کوي ، داکټران وایي چي له دغو لاسونو څخه ۲۰۰.د.ې تودوخه تولیدیږي

له ګوټ ګوټ نه

ع ظفر

دقرآنکریم دحفظ ریکارد

دکوهاټ اوسېدونکي دوه تنه ماشومان عبدالله او نورحمید چي د بنون په حفیظ القرآن نومي جامعه کي حفظ کوي په درې نیموصیاشتو کي بشپړ قرانکریم حفظ کړي دي.دجامعي مهتمم دغه کار یوه معجزه بللي ده په درې نیموصیاشتو کي دپوره قرآن کریم حفظ یوریکارددي تردي وړاندي هیچا هم په دومره کمه موده کي قرانکریم نه دي حفظ کړي

ویدیولرونکي تلیفون

پخوا ویل کیدل چي ماهران په داسي تلیفون کارکوي چي خبري کوونکي یووبل سره وینې ،اوس دغه ایدیا په عمل بدله شوي اوهمداسي ویدیو لرونکي تلیفون په څومیاشتي وروسته یعني د ۱۹۹۳ کال په اولو کي دجاپان بازار ته راووځي اوعام خرخلاویه یې پیل شي. ددي ویدیو لرونکي تلیفون بیه

فعلاً ۱٦٥١ امریکایي ډالره ده چي تقریباً ٤٢ زره پاکستاني روپۍ کیږي

حیراني ده

په افریقاکي داسي ماهي هم شته چي برېښنا تولیدوي . دغه ماهي له نورو څخه توپیر لري ، دحیراني خبره ده چي دغه ماهي سل ولته برېښنالري اوله همدي امله په ډېرو بحري حیواناتو زورووردي ، دماهي په خېته کي دبېښي په شان رنې غدي شته اود هماغو پواسطه برېښنا تولیدیږي ددغه ماهي دبرېښناپواسطه ،ګروپ رناکیږي او رادیو ، تلویزیون اوپکي هم پري چالانیداي شي .

څلورتولي طلا

یوسړي څلور تولي طلایي ځنځیر له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ ، ویل کیږي ډېر بانومي سړي دخیتي دردله امله داکټر ته ورغللو چي کله دهغه ایکسرې واخستل شوه نوڅکاره شوه دسړي په خېته کي طلایي ځنځیر دي ، داکتر انو دعملیات پواسطه هغه ځنځیر راوایستلو ولي سړي خپل ژوند له لاسه ورکړ .

دښځو ترټولو لوي قاتل

دزړه دناروغي پوهانو له زیات تحقیق وروسته داخبره څرګنده کړي چي اوس په نړي کي دښځو ترټولو لوي قاتل دزړه ناروغي ده ،ددغي ناروغي له امله په امریکاکي هرکال تقریباً (۲۵۰۰۰) ښځي خپل ژوند له لاسه ورکوي داکټران وایي ددي ناروغي اصلي وجه ، هغه پریشاني ده چي ښځي یې پخپله حالته پیداکوي ، دمثال په دول : زرقهرکیدل، له یوشي سره ډېر حساسیت درلودل، زیات خوشاله کیدل یاسخت غمجن کیدل ، همداشان ښځي تر نارینه وونه زیات دزړه په ناروغي اخته کوي . داکټران وایي ځرنګه چي د نارینه په نسبت دښځي ارادي قوت کمزوري دي اودمشکلاتو مقابله نه شي کولاي نوژرپه ناروغي اخته کیږي

لطیفي

دکورښځي خپل مزدورد ژړا په حال کي ولید پوښتنه یې وکړه ولي ژاړي ؟

هغه وویل زه یې یې ووهلم ،مالك خواب ورکړ نوځه وشول ؟ بې عقله کله دي زه هم په ژړالیدلي یم #

یوسړي خپله میرمن داکټر ته یوتله ،چي بیرته راوګرځیدل له میرمني څخه یې پوښتنه وکړه چي داکټر ناروغي څه تشخیص کړه میرمني وویل ،داکټر راته وویل چي یوه میاشت به بشپړ آرام کوي ،تبدیل هوا به کوي ، دېغمان ،کاریز میر اویااستالف سیل به کوي ددې خبري په اوریدو خاوند چپ شو ښځي یې وویل ،ولي چپ شوي وایه چیرته به ځو ؟ خاوندیې وویل : بل داکټر ته .

بې ګناهي

کله چي سقراط ته دزهروپیاله ورکړه شوه نودهغه شاګرد په چغوچغو ژړل سقراط تري پوښتنه وکړه ولي ژاړي ؟ هغه وویل پدي خاطر چي ته بېګناه وژل کیږي، سقراط وویل:اي کم بخته ته غواړي چي زه په ګناه ووژل شم .

درس هاي از "عقاید"

وحدتیار

بعضي ازاموریکه منافي ومبطل ایمان محسوب مي شوند :
اسلام از امورمنافي ومبطل ایمان انسان رابر حذرداشته است وحکم به تکفیر مرتکب آن نموده است مانند قصداً سجده به بت واصنام ، اهانت وتحقیر آنچه راخداوند تکریم نموده وامر به تکریم آن کرده است ، مثلاً قرآن حکیم ، ارشادات پیامبر اسلام، شریعت وقوانین اسلامي ، انبیاء ، ملائکه او امرونواهي دین ، فرایض اسلامي مثل صلاة ، صیام ، حج ،زکوة به همین ترتیب تلفظ به کلمه کفر وامثال آن.

صدور این نوع اعمال وعقاید ازانسان کفري باشد وهم درین زمره مي آید انکار وتکذیب نصوص ثابت ویقیني دین مثل آیات قرآن ،احادیث متواتر پیامبر ، حلال شمردن حرامیکه بدلیل ثابت قطعي واردشده باشد چون قتل ناحق ،زنا،ربا وسرقت زیرا این ها همه محل تصدیق اندکه براي صحت ایمان ضروري دیده مي شود تفصیل این موضوع دراخیر بحث عقاید به شرح وبسط خواهد آمد.

آنچه درحق خداوند واجب ، مستحیل وجایز است

مفهوم ایمان بالله : اینست که بنده بداند وعقیده کندبه اعتقاد جازم ویقیني به آنچه براي خدا واجب است ازصفات وآنچه مستحیل است از اضداد آن وآنچه جایز است.

۱- پس باید بداند وعقیده کندکه تمام صفات کمال وآنچه لایق ذات وي است وآنچه به آن خود را توصیف وتعریف نموده است درقرآن یابوسیله پیامبر علیه السلام درحق اوتعالي واجب است.

۲- باید بداند وعقیده کند که درآن هیچ شکي راه نیابد به اینکه تمام صفات نقص وآنچه لایق ذات اونیست درحق اوتعالي مستحیل مي باشد.

۳- وعقیده کند به اینکه فعل تمام ممکنات وترك آن درحق اوتعالي جایزاست مانند زنده کردن ،میراندن ... واین عقیده اجمالاً برهرمسلمان واجب است ودرپهلوي آن واجب است که هر مسلمان عقیده کند تفصیلاً به صفات سیزده گانهٔ خداوند که بران مدار الوهیت وعظمت ربوبیت مي چرخد واضداد آن درحق اوتعالي مستحیل است درین باب حدوحصري نیست لاکن این صفاتي است که اکثراً جدل واختلاف اطراف ان دورمي زند ویا اثبات آن مع باقي صفات واسمء ذات عالي خداوند تجلي مي کند متصف به صفات کمالیه ومنزه از نقایص واین صفات سیزده گانه قرارآتي اند:

۱- الوجود ضدش عدم
۲- القدم ضدش حدوث
۳- البقا ضدش الفنا
٤- قیام بذات خود ضدش احتیاج الي غیر
٥- مخالفت باحوادث ضدش مشابهت باحوادث
٦- الوحدانیت ضدش تعدد
۷- العلم ضدش جهل
۸- اراده ضدش اکراه
۹- قدرت ضدش عجز
۱۰- حیات ضدش موت
۱۱- سمع ضدش صم (کربودن)
۱۲- بصر ضدش عمي (کوربودن)
۱۳- کلام ضدش (گنگ بودن)

اکنون تفصیل هریك ازصفات مذکورراقدري مشرح ترتذکرمیدهیم

صفت اول

وجود باري تعالي

اینکه آیا انسان بخاطر اثبات وجود باري تعالي نیازمند به دلیل است ، حقیقت انسان وفطرت بشري این ادعارا تکذیب مي کند زیرا دروجود هرانسان قوي ترین شعور حتي بلند تراز احساس جوع عطش اینست که اومخلوق است وخالقي دارد که اورا پیداکرده است واین عالم کائینات را موجدي است حکیم ،مدبر ، قوي ، مدبر برهرچیز ورحیم ، خداوند مي فرماید

پس استوارکن خویش را به دین خدا درحالیکه از همه دینها روگردان باشي ولازم داریه خو دفطرت خداوند انکه بران مردم راخلق کرد هیچ تبدیلي نیست خلق خدا را ، اینست دین قیم وراست لاکن اکثر مردم آنرا نمي دانند

(الروم - ۳۰)　　ادامه دارد

حضرت بلال بن رباح رضي الله عنه

محمدخلیل

حضرت بلال رضي الله عنه دربښتوني عاشقانوسرخیل دي هغه خپل ژوند دیوخاص مقصدلپاره وقف کړي ؤ اوددغه مقصدترلاسه کولو لپاره یي ډیرزیات کړاونه اوددونه وزغمل دخپل بدن وینې دالله په لاره کي وبهولي اودحق دلاري شمع ئي داسي بله کړه چي دحق دلاري پتنګانولپاره نن هم یوځلانده مثال دي .

حضرت بلال رضي الله عنه حبشي النسل ؤاوپه مکه معظمه کي زیږیدلی. پلارئي دجمح نومي سري غلام ؤ مطلب داچي حضرت بلال په یوه غلامه کورني کي زیږیدلي ؤ اوځواني ئي هم دغلامي په حالت کي تیره کړي وه . دمکي په کوڅوکي به یي دغلامي ژوند تیراوه خوذهن ئي آزادو دده ذهن دانه زغمله چي دي دي غلام وي اودخلکوهره رواناروااخیره دي ومني خداخیالات دده په ذهن کي تازه ووچي یوناڅاپه دمکي په کوڅوکي یي یو آوازاریدکه څه هم داآوازدمکي خنکولپاره یونوي شي وخودبلال

پزره دیرښه ولګیدااځکه چي دبلال په زړه کي لاپخوانه داارمان ؤچي ځوك دي داسي راپیداشي چي له خانه جوړکړي خدایان ختم کړي اودباطل پرځاي دحق آوازپورته کړي کله چي بلال رضي الله عنه دلااله الاالله انقلابي ناره واوریده نودبلال زړه دخوشالي نه په ټوپونوشو اوپرته دځه ځنډنه یي دلااله الاالله دغه انقلابي پیغام قبول کړاوداسلام دلاري پتنګانوپه دله کي شامل شو خوجمح چي خبرشونوهغه ډیرزیات په غوسه شوچي آخرزماغلام څنګه داواني دالله نه پرته بل چاته سرنه شي ټیټولی اورسول الله صلی الله علیه وسلم نه پرته دبل چاامامت اومشري نشي قبولی .پدي وجه حضرت بلال ته ډول ډول تکلیفونه ورکړووبه ،ورکړي شول هغه ئي داوړي په ګرموشګو اوداوریه سره سکروټو حملاوه په پښوکي پري واچول اودوروورکاټونه دکودښتوکي کش کړشوخوبلال رضي الله عنه دلااله الاالله دکلمي دویلونه انکارونه کړ اوهمداناره ئي ووهله چي الله یودي الله یودي . دحضرت بلال باداره ډیرسخت زړي اوبدبخت انسان ؤ هغه یوځلي حضرت بلال دیوڅناوریه پوستکي کي تاؤکراوبیایي داپوستکي کلك وګانده تولا ورځ ئي په سخته ګرمي کي واچاوه اویوطرف بل طرف ته یي راښکود بیابه یي ورته ویل چي ستاخداي لات اوعزي دي خوبرالله من دحضرت بلال په ژبه داحداحدآواز پورته کیدوه داظلم اوزیاتي په حضرت بلال رضي الله عنه روزانه تیریده ، یوه ورځ حضرت صدیق رضي الله تعالي عنه داحالت ولیداوفوراً ئي دزیاتوپیسوپه عوض بلال له غلامي نه آزادکړ. رسول الله صلي الله علیه وسلم چي

له دي کارنه خبرشونوصدیق رضي الله تعالي عنه ته ئي وویل کاش چي زه دي هم پدي خیرکارکي شریك کړي واي ، حضرت صدیق رضي الله عنه په ځواب کي وویل یارسول الله اوس خوماتولي پیسي ورکړیدي اوبلال مي آزادکړیدي .

حضرت بلال رضي الله عنه آزادشوهغه رضي الله عنه یواځي دالله بنده واودالله نه پرته بل چاته خپل سرنیټولوته تیارنه و ، هغه دداسي مسلمانانوپه دله کي شامل شوي وو چي چادهغه په تورمخ اوغټوغټوشونډوباندي نه ځندل بلکه یودبل نه ځاریدل . هغه رضي الله عنه غلام نه بلکي داسلامي لښکریوپیاوري اوممتازغړي ؤ.

کله چي له مکي نه دمدینې منوري ته دهجرت حکم وشونوبلال رضي الله عنه هم روان شو چي کله مدیني ته ورسیدنورسول الله صلي الله علیه وسلم دده رضي الله عنه ورورې رویحه نومي یوه اصحابي سره وکړه ، ددي دواړو ترمنځ دومره زیاته مینه اومحبت ؤ چي حضرت بلال به کله چیرته په سفرتللونودکورتول واګي به ئي ابورویحه ته سپارلي حضرت بلال رضي الله عنه هغه جلیل القدرصحابي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم دموذن په منصب مقررکړ، دهغه په آوازکي داسي اثراوخوږوالي ؤچي چابه دهغه آذان واوریدنوروح به ئي خوشحاله شو، دسفرپه وخت کي به رسول الله صلي الله علیه وسلم سره یوځاي ګرځیدو، خلکوبه دحضرت بلال رضي الله عنه دآذان دآوریدولپاره دیرسخت انتظارکاؤ چي کله به دلمونځ وخت راشي خوبلال په خوشحالوونکي آذان وکړي

درسول الله صلي الله علیه وسلم له وفات نه وروسته حضرت بلال رضي الله عنه ډیرکم آذان کاوه حال داچي اصحاب کرام دبلال رضي الله عنه دآذان ډیرزیات عاشقان وو

دبیت المقدس دفتحي په وخت کي حضرت عمررضي الله عنه دشام په لوري روان شوپه جابیه نومي ځاي کي داصحابویوي دلي دحضرت عمررضي الله عنه استقبال وکړ، بلال رضي الله عنه هم موجودؤداسلامي لښکرمشرابوعبیده ابن جراح رضي الله عنه له حضرت عمررضي الله عنه نه وغوښتل چي بلال ته دآذان کولو فرمایش ورکړي . کله چي حضرت بلال (رض) آذان شروع کړنوځوکاله وروسته یوزړه وړونکي آوازدخلکوپه غوږونو ولګیدنبوي دوراودمدینې دلاروکوڅوتول یادونه یوځلي بیاتازه شول دټولو اصحابوله سترګونه اوښکي جاري وي، حضرت عمر، حضرت ابوعبیده اوحضرت معاذغوندي جلیل القدره اصحابوهم

خپلي اوښکي بندي نکړاي شوي اوپه چغوچغوبي وژړل .

دویم ځل حضرت بلال په هغه وخت کي آذان وکړچي له شام نه مدینې منوري ته راغي. امام حسن اوامام حسین ئي سینې ته نژدي اوښکل ئي کړل .

حسنینورضي الله عنها له بلال څخه وغوښتل چي آذان وکړي حضرت بلال رضي الله عنه دهغوي دخوشحالولوپه خاطردسهارپه وخت دنبوي مسجد په چت باندي ودریداوپه آذان ئي شروع وکړه ، دمدیني اوسیدونکي ټول خوشحاله شول اودزیاتروکورونوڅخه په سلګوسلګودژړاغږپراوچت اودهرچاله سترګونه داوښکوسیلاب روان شو. هرچابه نبوي مسجد په لوري منډه کوله ترڅوحضرت بلال باندي نظرواچوي اودفراقت تنده وریاندي ماته کړي. درسول الله صلي الله علیه وسلم له رحلت نه وروسته صرف په دغو دوځایونوکي حضرت بلال رضي الله عنه آذان کړیدي .

حضرت بلال رضي الله عنه دجیل وخت یوجلیل القدر صحابي اوتوریالي مجاهد ؤ. له آذان نه پرته دتوري په چلولوکي هم ډیرزیات ماهرو دبدرپه جنګ کي دهغه بهادري اوشجاعت بي مثال ؤ. امیه بن خلف چي دمکي ددي باداراوژوندیي وریاندي تنګ کړي ؤ چي کله پري دحضرت بلال نظرولګیدنودمدلاسه یي پري غږوکراودتوري په یوګذارئي مردارکړ

حضرت بلال رضي الله عنه دمکي ترفتحي پوري درسول الله صلي الله علیه وسلم همرکاب ؤ کله چي رسول الله صلي الله علیه وسلم په مکه کي په فاتحانه اندازداخلیدنوبلال رضي الله عنه هم ورسره ملګري ؤ، رسول الله صلي الله علیه وسلم چي کله کعبي شریفي ته ورننه شونوبلال، اسامه بن زیداوعثمان بن طلحه رضي الله عنها هم ورسره ملګري وو .

دحضرت محمدصلي الله علیه وسلم له رحلت نه وروسته حضرت بلال رضي الله عنه دابوبکر صدیق رضي الله تعالي عنه څخه دجهاد کولو غوښتنه وکړه اوصدیق (رض) ته یي وویل آیا تازه ددي لپاره آزادکړي وم چي تاسره به یم یاالله لپاره دي آزادکړي وم ؟

حضرت صدیق رضي الله عنه وویل چي د الله لپاره،بلال رضي الله عنه وویل بیا ماته اجازه راکړه چي دالله په لاره کي جهادوکړم ،صدیق رضي الله عنه ورته وویل اي بلاله پدي بوداتوب کي ماته ستادمشاورت اورهنمایي ضرورت دي نوځکه زه تاته دالله په نامه قسم درکوم چي مایواځي مه پریږده حضرت بلال رضي الله عنه دصدیق داحترام په وجه په مدینه منوره کي اوسیدل قبول کړل . (تورپیا)

***



زموږوروستي سرنوشت به څه وي ؟

انجنیرعبدالودود

زه خوموده دمخه دیوه کارلپاره کویټي ته تللي وم دازمادآرزوسره سم لري سفروو، لکه چي څرګنده ده دکویټي سفرلڅه خسته کن هم دي، ځکه ډیره اوږده لارده مګرماته داسفرډیرپه زړه پوري ښکاریده ، ځکه ماهرځاي نوي شیان اونوي کیسي واوریدلي، دغرمي په دوو بجوموږدیوه هینوموټرپه ذریعه دځونوروملګروسره دپښاورڅخه دکویټي په طرف سفرشروع کړ شپه مونږته ورسوله ، هلته موشپه تیره کړه سهارموبیا خپل سفرته دوام ورکړ چي مازدیګربیادسمبازي په نامه یوي یوځي چوني ته ورسیدو، داچوني دژوب ښارته نژدي پرته ده ، دچوني کارکوونکوموږته دتور سفراجازه نه راکوله اوهم ئي زموږموټرهوتل ته نژدي نه پریښود نوموږمجبوروچي دموټرله خواسره شپه تیره کړوهواهم نسبتاً سره وه

په هرصورت شپه تیره شوه ، سهارموبیاسفرشروع کړ دسهارچاي مودژوب شهرته ورساوه هلته یودکان ووانو یوتکره اونیك خویه ځوان پکي ناست وو، مادهغوڅخه پوښتنه وکړه چي ته مهاجرئي هغه راته په ځواب کي وویل هوکي ، هغه خپل نوم فضل الرحمن دغزني دښهراوسیدونکي معرفي کړ . مابیاپوښتنه وکره چي تاسي دلته کورلري هغه په خوږه لهجه وویل هوکي، موږکورلرو، په کرایه دي .

ماوویل ولي دلته مهاجرنشته هغه وویل، دلته ډیرمهاجردي، ټولو شخصي کورونه جوړکړي وو، زموږهم شخصي ښکلي کورووو، هغه مرداسلامي حکومت په منځ ته راتلوسره خرڅ کړ بیاموږخپل ځاي غزني ته ولاړو هلته موچي ولیدل حالات بل ډول دي، نومجبورشوو، چي بیرته راشو ده زیاته کړه چي زیات تاوان موږته ورسیده، آخرنه زموږغریبانوسرنوشت څه کیږي دادي ۱۳ کلونکلیفونه ، ربړونه، دشهیدانو وینې ټولي عبث شوي، داچي زموږوخت کم وو، سفرموپه مخ کي وو، نومانوري خبري دده وانه اوریدي فقط دومره مي ورته وویل چي فکرمه خرابه وي، خداي (ج) چي هغه ټول مشکلات لري کړي دابه هم آسانه کړي، بیاموږتري رخصت شوو، دمازدیګرځلوربجي وي چي مسلم باغ ته ورسیدو،شپه موهلته تیره کړه ، سهاردځینوورونو په مرسته دښاریه ځینوځایوکي وګرځیدو، دهرچاسره به چي مخامخ شوو، نوهغوي به دموجوده وضعي په باره کي رازراز خبري کولي، اوخپل دردونه به ئي څرګندول، ټولوداخبري کولي چي زموږ وروستي سرنوشت به څه شي !

آخرزموږدهغه شهیدانو، یتیمانو، کونډواومعیوبینو، بندیانودتکلیف ثمره څه شوه ! ولي زموږځیني مشران دومره غافله دي، اوسترګي ئي پټي دي ، چي داټول شیان ئي هیرکړه . اودهغه پخوانیوکمونستانوسره بیایوځاي ناست دي. اودهغه ټول جنایات ئي له ذهنه وایستل .پدي جمله کي یوحاجي صاحب چه نوي دکابل څخه راغلي وو، خپل حالات داسي بیان کړل: زه یوه میاشت پخوادزابل دولایت څخه دمولوي صاحب قدرت الله سره کابل ته تللي وم ، هلته ئي موږته په کابل هوټل کي کوټه راکړي وه ، یوه ورځ دمولوي صاحب یوخپلوان چي په چهلستون کي ئي کوروو، راغي چي تاسي زمامیلمانه یاست . موږهم دهغه سره وعده وکړه اوسباهغه سري راغي نوموږدمیلمستیالپاره ورسره ولاړو، کله چي دګذرګاه سیمي ته ورسیدو هلته،دګلم جمانویوه پوسته وه هغوي موږودرولواوتپوس ئي وکړ چي کوم امرلري ؟ مولوي صاحب ورته دسلاح ګرځولو مکتوب وروښود ، هغوي وویل چي داخودسلاح دي دموټرامرچیري دي، مولوي صاحب وویل چي زه آمریم دازماموټردي ، هغوي وویل چي دموټرڅخه ښکته شي، مګرمولوي صاحب وویل چي زه نه کښته کیږم، هغوي هغه تهدیدکړاومجبورکښته شو.

دوي راغله موټرئي چالانه وه مګرموټرچالان نشو، بیائي ماته وویل چي داموټرتاخراب کړ ، رداویدیي وویل اوپه راکټ اندازئي زه تهدیدکړم، خوبیا هم موټرچالان نشو، بیادوي یوټانګ راوست موټرئي په هغه پسي بندکړ موږئي هم په ټانګ کي واچولو، یوه نامعلوم ځاي ته ئي بوتلو. هلته چي ولاړوموږورته وویل چي موږته اوبه راوړي هغوي اوبه راوړي اواودسونه موکړل بیاموپوښتنه تري وکړه چي قبله کومي خواته ده هغوي په ځواب کي وویل چي موږ په قبله نه پوهیږوهري خواته چي موږه وي هغه خواته لمونځ وکړي، شپه راغله یوه بله دله ګلم جم راغلل سپکي اوبدي خبري ئي کولي اوهغوي ویل چي داخلك موږته راکړي چي مړه ئي کړو، ځکه موږدحکمتیارنفرونیولي وو اوموږته ئي تکلیف راکړي دي. خو هغه هم ولاړل ، بیائي بله دله ګلم جمان راغلل یوالبوم ورسره ووچي په هغوکي دښځوعسکونه وو، دوي وویل چي دنجیب حکومت ښه وو، هغه وخت زموږسات ښه تیریدو، کله چي تاسي راغلي داکیسی اوس نشته اوبیائي درباني صاحب او مسعودنه ښولي ترحکمتیارپوري ښکنځل شروع کړل . داصحنه هم تیره شوه بیائي روپۍ راوړي مولوي صاحب ته ئي وویل چي راځي قمارراسره ووهي، هغه ورته وویل چي روپۍ خوتاسي راڅخه واخستي نوري روپۍ زموږسره نشته، دوي وویل چي موږبه روپۍ قرض درکړو، بیابه ئي راکړي . داصحنه هم تیره شوه پدي کي درس شپي تیري شوي بیا موږ ورته وویل چي موټروهغه اته نه لکه روپۍ دي ستاسي دي خوموږ پریږدي دوي وویل چي تاسي به پریږدوومګرپدي شرط چي به موټرانوپیسوسی ونه ګرځي، موږهم ورسره قبوله کړه ، بیائي ماشیان بیایه ټانګ کي کښېنولواودمکروپانیوبه بي کښېنه کړو.

رئیس جمهورلاوس درګذشت

وین تیان - ۲ قوس :

دیپلومات هاي مقیم وین تیان پایتخت لاوس میګویند : درګذشت ناګهاني کریسن پونګهان رئیس جمهوري آنکشورباعث خلاي قدرت درآن جمهوري شده است .

محافل رسمي درباره جانشین اوتاکنون هیچگونه اظهارنظري نکرده اند طبق قانون اساسي لاوس کامتاي سیکاوندون نخست وزیرلاوس تابرګزاري انتخابات وظایف ریاست جمهوري رابه عنوان رئیس کشوربه عهده مي ګیرد .

ګزارش ها حاکیست،علاوه برنخست وزیر یکي دیګرازداوطلبان ریاست جمهوري احتمالاً نوهات کوتساوان رئیس جمع ملي لاوس خواهدبودوي هم اکنون مسئول سازماندهي مراسم تکفین وتدفین رئیس جمهورمتوفي است . ولي دیپلومات هاي مقیم وین تیان معتقداندکه رئیس جمهورمتوفي لاوس ازشخصیت نافذ ووالابرخورداربود ومسئله حل جانشین وبرکردن خلای وي آسان نخواهدبود، به مناسبت وفات وي یك هفته عزاي عمومي اعلان شده وپرچم ملي نیمه افراشته است .

\#\#\#

زموږدوستان نورله ...

لوټل اوبي ځایه وینو تویولو مخه ونیوله شي ، دسرداري اوباداري ژوند پاي ومومي ،سلاح دخلکو له اوږو رابښکته شي ،عامه افکارترفشار لاندي ونه نیول شي ، په خلکو لګیدلي بندیزونه اوبي ځایه پابندیونه له منځه ولاړشي یودبل په ضد له کمین نیولو نه خودداري وکړي اوټول افغانان په یوه لیکه دورونو په شان ژوند وکړي دادي د اسلامي حکومت پیلامه اودملت دنجات بوازیني لار.

په کابل کي چي اوس کومه ائتلافي اداره جوړه شوي اوزموږ دوستانو چي پکي دراکړي ورکړي کوم بازار ګرم کړي ګي داته درنغیدلي اوکیدلي ملت په درد دواکیداي شي اونه پري اوسني راولاره شوي ستونزه حل کیداي شي داورسوي داوریه لیونه جوړیږي داصافه اداره ده چي ښوارلس کاله بي زموږ په ملت

داوسپنواوزهرو اوربل کړي اولابلوي بي خو اوس بي داسلام یوشمیر مدعیان بي حکومت قانوني اوملیشي بي دیوځ یوه برخه ګڼي ،او دملیشو ایستل له کابل څخه ستره ګناه

اوس پوښتنه داده چي استاد رباني ! تا خوپه اصطلاح دکابل تخت رشید دوستم ورکړ، چي دبخت انجام به بي څه وي اودولایاتو تضمین به بي ځوك وکړي

لویي لاري خو لاپریږده چي دملت ژوند پکي تغښتي دي دکابل اوسني زعامت دماشومانو پاچاوزیري ده چي دطوس اوپاچا په وړاندي وروسته کولو کي، ځوك دریاست په کورسي. کیښنوي اوچاته دکوټ بریښ ترشا تري ئن چي په کابل کي کوم اداري اواخلاقي فسادونه رامنځته شوي نه دروسانو دانودخو وخت کي وو اونه دظاهرشاه او داود

په فاسد رژیم کي دکابل اوسني زعامت له صلاحیت نه فاقد اوتل دنورو اشاروته ګوري افغانان له خپلي خاوري سره بي کچه مینه لري خویدي شرط چي زعامت بي تپل شوي اوله بیګانه و سره تړلي نه وي ،اوس نوکه دي ته اسلامي حکومت ووایو نو غیر اسلامي کوم دي اوس راځو دي ته چي دکابل دائتلافي اداري واکمن له ملت نه څه غواړي تخت غواړي که تابوت ، که تخت غواړي نودملت خواستي دي ومني دملیشو او ګلم جمو په عوض دي مسلمانانو ته ترجیح ورکړي ټولي پوځي ادي دي له کمونستانو خالي کړي اودمسلمان ملت غوښتنو ته دي مثبت ځواب ووايي پخپلي ټاکلي نیته دي دحل اوعقد شوراي راوغواړي ترڅو دراتلونکي یونوي زعامت انتخاب کړي اوکه چیري تابوت غواړي نوبیا دي په اوسني

ورسپارلي چوکي ښتي تینګي کړي اودخپلي اسلام دښمني اوملت دښمني انتظار دي وکړي حکومتونه په زور نه جوړیږي هغه د ملت اراده پوري اړه لري هغه ملت دي چي چاته تخت ورکوي اوچاته تابوت جوړوي نواوس دوي اختیارلري چي تخت خوښوي اوکه تابوت

\#\#\#\#\#\#

کشور اسلامي بوسنيا را بشناسيد

ترجمه رحيم گل "منيب"

حتماً نام کشور بوسنيا هرزه گوونيارااز طريق رسانه هاي خبري جهان شنيده ايد ، بوسنيا کشوريست دراروپاي جنوبي که اکثر باشندگان آن معتقد به دين مقدس اسلام بوده وهمواره مي کوشند تا جهت حفظ وپاسداري دين اسلام وبقاي خودشان به کار وپيکار شان ادامه دهند . روي اين ملحوظ باگذشت هر روزي تعداد بي شمار مسلمانان آن خطه باهدف شليك مليشه هاي صربي قرارگرفته قربان مي شوند ويا روانه سلول هاي زندان گرديده شکنجه وتعذيب مي گردند ، به عفت زنان مسلمان بوسنيا بي تعرض صورت مي گيرد وطفلان وکودکان معصوم وبي دفاع مسلمين جهت پذيرش دين عسويت روانه کشور هاي اروپايي مي گردند بناءً جهت شناسايي بيشتر کشوراسلامي بوسنيا توجه خوانندگان را اجمالاً به پس منظر تاريخي آن معطوف ميداريم .

سرزمين بوسنيا درقرن يازدهم عيسوي ازطريق بحيره سفيد ازاشعه نوراني دين اسلام مستفيد گرديد .

مسلمانان بوسنيا ازقرن يازده الي پانزدهم عيسوي باوقايع مختلف عروج وزوال روبرو گرديده ، درسال ١٤٦٣ عيسوي مسلمانان ترك بوسنيارا تصرف نمودند ، درآن وقت يك فرقه عيسوي مذهب بنام (بوگوميلي) دربوسنيا امرار حيات مي کردند . ايشان به موجوديت خداوند عقيده داشته برعکس ازنزول وحي برپيغمبر ان انکارمي ورزيدند. اماطائفه ديگري از پيروان مذهب عيسويت که خود را نسبت به "بوگوميلي ها " مترقي تر و پاك دامن ترقلمدادمي کردند عليه آنها نهايت جبر وستم را روامبداشتند . ولي ترکي ها طائفه بوگوميلي را از شر ظلم وستم عيسوي هاي به اصطلاح مترقي نجات دادند ، بوگوميلي ها توأم بااين سلوك نيك وروش پسنديده مسلمانان ترك نه تنها بامسلمانان نزديك شدند بلکه رفته رفته علاوه ازيك مليون نفر ازطائفه بوگوميلي درقرن ١٦ عيسوي مشرف به دين اسلام گرديدند . صربيايي ها دومراتب درسالهاي ١٨٠٤ و ١٨١٥ عيسوي عليه حکومت ترك ها دست به بغاوت زدند ولي نتيجه مثبتي رابدست آورده نتوانستند بالاخره ترك ها درسال ١٨٣٠ عيسوي آزادي داخلي صربي ها را به رسميت شناختند ،به تعقيب آن شاهان اروپايي درسال ١٨٧٨ ميلادي صربيا رامنحيث دولت مستقيل به رسميت شناخت.

همزمان بابه رسميت شناختن صربيا به حيث دولت مستقيل صربي ها عليه مقدونيه ومانتي نگرو حمله آورشده آنجا را متصرف شدند ، درسال ١٨٨٢ ميلادي بوسنيايي ها دولت آزاد ومستقل بوسنيا را اعلان نمودند. ولي آستريا عليه بوسنيا تجاوز نموده آنرادرقبضه خود درآورد درحاليکه مناطق سلوينيا ، کروشيا ومناطق سليوتيز در تصرف استريا قرارداشت . آستريايي ها رسم الخط وزبان بوسنيايي ها را که عربي بود غير قانوني اعلان نموده به جاي آن زبان سلاوني که رسم الخط رومني داشت ترويج دادند .

آستريايي ها مسلمانان رامردم جاهل قلمداد نموده حتي آنها را سکنه درجه دوم آن کشور نامزد نمودند .

درسال ١٩١٤ ميلادي بازمان جنگ بزرگ جهاني آستريا بالاي صربيا حمله راآغاز نمود ولي درسال ١٩١٨ عيسوي صربيا ، کروشيا وسلوووينا مشترکاً دولت واحدي راتشکيل دادند بعداً مانتي نگرو هم ضميمه آنها گرديد.

درسال ١٩٢٠ عيسوي اسامبله به خاطر تصويب قانون تشکيل گرديده (الگزندرکار جارج وج) رابه حيث پادشاه تعيين کردند ولي يکسال پس شاه پيتر اول سمت پادشاهي آنکشور راعهده دارشد . دروقفه بين جنگ هاي اول ودوم جهاني مسلمانان راکاملاً خاموشي احاطه نموده درنصف اول قرن ١٩ ميلادي ازيك طرف برمسلمانان جبر وستم آغازگرديده حق تشکيل تنظيم جداگانه را به آنها نميدادند ازسوي ديگر دربين سالهاي ١٩٤١ و ١٩٤٥ عيسوي بروز خانه جنگي ها دريوگوسلاويا زمينه تعدي وبربريت .را عليه مسلمانان بيشتر مساعد ساخت . کشور يوگوسلاويا درسال ١٩٤٥ ميلادي درنتيجه شرکت دول بوسنيا صربيا ، کروشيا ، سلووينيا ،مانتي نگرو مقدونيه ودومنطقه آزاد (سوو) و (وج وودنيا) پابه عرصه وجود گذاشت .

بوسنيا کشوري است که اکثريت نفوس آن را مسلمانان تشکيل ميدهد ،درمنطقه "سوو" هم تعداد زياد مسلمانان زندگي داشته آنها يك ولايت مسلمان الباني النسل راتشکيل دادند.

برعلاوه "سوو؛ وبوسنيا منطقه " سنجك " درجنوب يوگوسلاويا نيز ازنفوس بيشتر مسلمانان بهره منداست . قانون جديد يوگوسلاويا درسال ١٩٦٣ عيسوي آنکشور رابنام جمهوري سوسيال فدرال يوگوسلاويا نام نهاده مارشال تيتو را الي خاتمه حياتش بحيث رئيس جمهور آنکشور انتخاب کرد . اگر چه مارشال تيتو درجنگ جهاني دوم به خاطر جلب همکاري مسلمانان بوسنيا وعده داد که درختم جنگ آنها را آزادي ميدهد .ولي باختم جنك نه تنها تيتو به وعده اش وفانکرد ،بلکه بيشتر ازسائرين به اذيت وآزار مسلمين اقدام نمود. ولي مسلمانان درجهت آزادي شان تلاش هاي خستگي ناپذيري رادنبال نمودند پس ازاينکه مارشال تيتو درسال ١٩٨١ عيسوي چشم ازجهان بست ،تحريك آزادي مسلمانان به اوج خود رسيد حتي که مسلمانان منطقه "سوو " آن ساحه را به حيث جمهوريت مستقل وجداگانه مطالبه کرد.

اماحکومت وقت وضع اضطراري ونظامي را اعلان نموده تلاش هاي مسلمانان "سوو" راخنثي ودرسال ١٩٨٨ ميلادي آن منطقه رامستقيماً تحت اداره وکنترول صربيايي ها درآورد . دربلگراد تبليغات زهرآگيني عليه مسلمين آغازشده آنها را منحيث افراد غير يوگوسلاويايي نامزدکردند .باوجود اين همه دسيسه ها نه تنها تلاشي راجهت تباهي وبربادي مال ، جان ،عزت وآبروي مسلمانان آغازکردند . بلکه حتي الوسع درجاري نگهداشتن آن سعي بليغي رابه خرج دادند .

اماموجوديت اين همه ،مظالم ناروواناجائز حکومت وقت مسلمانان تحريك آزادي خواهي شان را مزيد استحکام بخشيدند ، بالاخره مسلمانان بوسنيا بازوي فرعوني ظلم وستم راشکستانده پرچم آزادي رابلند نمودند. باآگاهي ازپس منظر تاريخي بوسنيا لازم مي افتد تا درباره قانون دولت ،اقتصاد ، صنعت ،وضع جغرافيوي ،نفوس وزبان مردم بوسنيا نيز معلومات مختصر ارائه نمائيم . تمام جمهوريت هاي يوگوسلاوياي سابق ازخودقانون وشوراي جداگانه داشتند ، بوسنيا داراي اسامبله ملي تشکيل از ٢٤٠ عضو بوده ،مجمع (١٧) رکني ديگر شوراي عالي آن کشور را تشکيل ميدهد، دربوسنيا سه حزب بزرگ سياسي حرکت ديموکراتيك اسلامي ،حزب ديموکراتيك صرب واتحاديه ديموکراتيك کروات ها موجوديت دارد. درنتيجه انتخابات ماه دسمبر سال ١٩٩٠ ميلادي حرکت ديموکراتيك اسلامي (٨٦) چوکي ، حزب ديموکراتيك صرب ها (٧٠) چوکي واتحاديه ديموکراتيك کروات ها (٤٥) چوکي رابدست آوردند ، درين وقت حرکت ديموکراتيك اسلامي واتحاديه ديموکراتيك کروات ها باهم اتحاد نموده مجموعاً ١٣١ چوکي راازآن خود کرده دولت راتشکيل نمودند .

"عزت بيگو ويك " و"جبورايليوان " راکه هردو مربوط اتحاديه ديموکراتيك کروات ها بودند بالترتيب به حيث رئيس جمهور وصدراعظم مقرر نمودند . فعلاً هم همان حکومت موجود بوده برخلاف صربي هاي متجاوز درجنگ ونبرداند ، قابل ذکر است که حرکت ديموکراتيك اسلامي درانتخابات ٣٦ فيصد چوکي ها رابدست آورده بود.

ادامه دارد

شوراي اسلامي وخصوصيات ...

فضاوروح حاکم برشوراي اسلامي ؛

البته روح حاکم برهرجمعي که تشکيل ميشود دقيقاً باساخت وترکيب آن مجمع وکيفيت اعتقادي افراد ووجه اجتماع وهدف تشکل آنهامرتبط است .

به عبارت ديگرهرگاه افرادي به منظوري واحد گردهم مي آيند علاوه برخصوصيات فردي افراد که دررفتار وکردارهريك به تنهايي نمايان است خودجمع ترکيب وتلفيقي ازآن خصوصيات راباتوجه به هدف مشترکي که باعث تجمع آن عده بوده درخودايجادمي کندکه به آن روح جمعي مي گوييم .

